


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم: له مسکاله تر ډې حاله !
لیکوال: بلال ظاهر وزیري
کمپوز: انجینر علي شباب
ډیزاین: حزب الله شهباز ساپی
خپرندوی: شهباز خپرندویه ټولنه
چاپشمېر: ۱۱۰۰ ټوکه
د خپرونو لړۍ: ۸۷
چاپ وار: لومړی
کال: ۱۳۹۸ل.ل/ ۲۰۱۹م


د چاپ حقوق له خپرندوی سره خوندي دي.


د ترلاسه کولو پتې:

ارمان کتاب پلورنځی، ارزان قیمت کابل/۰۷۸۲۲۲۸۳۴۳

عتیق الله کتاب پلورنځی، لوګر

یونیورستی بُک ایجنسی، خیبر بازار پېښور

پښتو اکېډیمي بک شاپ، پېښور یونیورستی:۰۳۱۲۰۰۹۴۹۴۰

ثاقب پبلشرز، رحمت مارکیټ، عقب قصه خوانی، پېښور

فقیر بک ایجنسي، قصه خوانی پېښور:۰۳۴۲۹۷۴۵۸۲۳

روغانیوال خپرندویه ټولنه؛ اسحاقزی مارکیټ. لاندیني پوړ، جلال آباد ښار، افغانستان اړیکشمېرې: ۰۷۸۷۸۳۰۳۰۲ - ۰۷۷۲۹۹۴۰۴۰

شهباز خپرندویه ټولنه، بي بي حوا لېسې تر څنګ. حاجي زمان کوڅه، حاجي عظیم مارکېټ جلال اباد ښار

۰۷۸۷۸۸۲۸۱۲/ ۰۷۷۲۹۲۰۰۸/ ۰۷۹۷۹۲۰۰۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ډالۍ:

لاندې سپېځلو او ګرانو خلکو ته !

-شهيد پلار جان ته، چې ما نه دا وليده او نه مې
يې مينه وليده

- خوږې مورجانې ته چې پښتني احساس سره
يې را لوی کړم، دا سيوری دې زما په سر تل
وي.

ب ظ وزيري

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بلالي انګازې او تخليقات

د يو غټ سترګي سړي، يو په ډېرو مسايلو پوهېدونکي سړي، په ذهن کې څه تېر شي. دا سړی همدې افکارو ته رياضت پيل کړي ايسته ترې شعر جوړ شي.

د شعر ليکل يو ځانګړی هنر دی چې د الهام او د رياضت د زېږندې نوم ورکولی شو او رښتيا دا د هر چا کار هم نه دی.

چې د ټولنې يوه پېښه را واخلي او په يوې کوچنۍ نړۍ کې ورته ځای ورکړي، کله خو داسې هم وشي چې شعر پېښه زېږوي، خيال په حقيقت بدل شي.

بله بحث د نثر دی چې د پاڼې پر مخ به درته هسې تشې کرښې ښکاري خو په حقيقت کې به داسې کرښې کښل شوي وي، چې لوستونکی له ځان سره کلک ساتي. د لوستونکي په سترګو کې اوښکې ډنډ کړي، د لوستونکي په مخ مسکا راولي کله ورته تندی وران کړي. دا ټول کمالات د نثر ليکونکي يا ليکوال د قلم کېدلی شي.

د دې پورته دوه ډوله هنرونو څښتن شاعر او ليکوال بلال ظاهر وزيري چې د نېږدې خوږو ملګرو څخه دی، د شعر سره سره د ټولنې په څو مهمو برخو (له مسکاله تر دې حاله) ناول ليکلی.

ياد ناول مې څو ځل له سترګو تېر کړ، وه مې لوست.

ګڼ موضوعات پکې ذکر شوي وو

د يو لايقه ځوان او د يوې شنې پاڼې کيسه پکې تر بحث لاندې نيول شوې وه، خو يوه شنه پاڼه پکې سوځي او يو تکړه لايق پکې ناکامېږي. دلته زموږ د ټولنې يو شمېر بد عرفونه دي، چې اکثره پېغلې او ځوانان يې قرباني کېږي، دلته ترې ډېره ښه يادونه شوې ده. ټولنيز، فرهنګي، نظامي، او روان حالات پکې څېړل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له مسکاله تر دې حاله ! / ۲

د ناول ژبه ډېره روانه ده، موږ چې کوم ډول خبرې کوو په هماغه ډول لیکل شوی ده، یو شمېر پښتو اصطلاحات پکې هم ذکر شوي دي هڅه دا شوې ده چې کره پښتو ولیکل شي خو بعضې ځایونو کې د جملې د خرابوالي په خاطر د لیکوال سترګې په پښتو پټې شوي دي ټوله کې د اداکارانو د نومونو په انتخاب کې ښه فکر شوی دی ښه نومونه یې ټاکلي دي لکه، (لایق، پاڼه، چینار ګل، وړانګه، ائینه، شینکۍ، ننبنتره توړی.... )

د بلالي یار د نثر په نړۍ کې دا د پیل ګام دی خو داسې ښکاري چې په دې نړۍ کې لا ډېر لوبېدلی دی.

تاسې درونړ مخاطب د وزیري صیب دا لیکل شوی نثر ډېر په مینه ولولئ ان شاالله ډېر څه به ترې تر لاسه کړئ.

زه ګران وزیري صاحب، ملګرو او کورنۍ ته یې د دغې لاسته راوړنې مبارکي وایم.

تاسې (له مسکاله تر دې حاله) ناول سره پاتې شئ زه وزیري صاحب ته هیله من یم چې په راتلونکي کې به لا نور ښه کتابونه خپلې ټولنې ته وړاندې کړي، د دغې یار د لا نورو ښځونو په هیله د قلم نوکه یې وچه مه شه.

مینه او درناوی

علي شباب
فکري دریځ ـ ننګرهار
۱۴\۴\۱۳۹۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د بلال د پیل ګام !

دریغ ته وبلل شو...( ښه نظم لیکونکی، ښه نظم ویونکی او د ښو کلیماتو متخلق) دې ته ورته ډېره ستاینه یې وشوه. یو تور هلک یو دردېدونکی هلک یو غټ سترګی هلک، درد یې په څهره کې له ورایه ښکارېده په دریغ مورډ ته مخاطب شو.

پیل یې په دوه بیتونو وکړ له هغې وروسته یې داسې نظم ووایه چې د درد سره سره یې خوند راکړ دا نظم کلیوال نظم و دې په (سلایي) نوم نومولی و.

څنګ ته ناست ملګری علي شباب مې وسکوندېده او ورته مې کړه چې نظم دې وي او داسې دې وي.

بلال یار شو هماغه د سترو شپو او ورځو یار زموږ فکرونه سره نېږدې وو موږ د عدم تشدد د لارې ملګري وو. ډېری وخت به سره یو ځای وو، د هېواد په روانو حالاتو به اکثریت شنني روانې وې کتابونه به مو سره لوستل. په حقیقت کې د یوې رښتینې ملګرتیا تارونه سره غځېدلي وو.

بلال د پیل ګام واخیست له ما سره د مشورې پرته یې خپل یو نثري کتاب ټولنې ته وړاندې کړ خو ښه کار یې وکړ.

(له مسکاله تر دې حاله) د بلال ظاهر وزیري لومړی ناول دی، ما له سره تر پایه ولوست.

چې د ژوند حقیقتونه، مذهب، ارزښتونه، او کلیوال رنګ یې پکې راټول کړی، ټولنې ته وړاندې کوي

نوم یې هم بد نه دی (له مسکاله تر دې حاله) مسکال وشو...

ولې اړیکه ونیول شوه؟

ولې دا اړیکه وپالل شوه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

له مسکاله تر دې حاله ! ۸/

ولې یوه شنه پاڼه وسو ځیده ؟
ولې یو ځرګند لایق ناکام شو ؟
ولې دومره قربانیانې....؟
پایله یې څه شوه...؟

دا هغه پرتې پوښتنې دي چې په لوست سره به یې لوستونکي خپله ورته ځوابونه پیدا کړي.

بلال توره وکړه د خپلې خوږې پښتو ژبې یو څو سلنه حق یې ادا کړ، لږ څه یې د پښتو په میراث کې نور هم اضافه کړه. اوس په دې وپوهېدو چې بلال له شعري ژبې سربېره نثري ژبه هم لري.

زه ملګري بلال ظاهر وزیري ته هیله من یم ډېر هیله من چې دا به په دې برخه کې لا ډېره هڅه کوي تر څو خپله ژبه نوره هم بډایه کړي.

زه ورته له ډاډ او مبارکی سره سره دا لارښوونه کووم چې په دې برخه کې لا غښتلی پاتې شي چې لا ډېر کتابونه خپلې ټولنې ته وړاندې کړي.

زه ستاسې او کتاب تر منځ نور نه راځم تاسې (له مسکاله تر دې حاله) ولولئ او د مسکال او حال تر منځ پرتې پوښتنې حل کړئ، زه وزیري ته بیا هم د دغې ناول د چاپ مبارکي وایم د تخلیق فکر یې له کلیماتو مالامال او د قلم څوکه یې وچه مه شه.

درنښت

عبدالله بهار (صافی)
د روڼ ټولنیز بنسټ مرستیال
ننګرهار جلال آباد

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مننې په پار !

تخلیقات په ډېرو مسایلو کې ترسره کېږي، د ادب تخلیق بیا دوه موضوعات زېږوي

چې یوه برخه یې نظم او بله یې نثر ده

زه چې کله په دریغ شعر وایم نو که رښتیا ووایم ډېر تشویقېږم چکې شي، ښه شېبه راته د لاسونو پړکا کېږي.

زه دومره نه آرزم، خو شاید د دې خلکو د ژوند انځورونه به زما به شعر کې ښکاري چې بې خیاله راته سر خوځوي. دا کیسه په ما هم تېرېږي یو شمېر ملګري دي چې شعر وایي وایم لکه چې دا یې ماته لیکلی دی سم ډېر خوند ترې اخلم.

راځم دوهمې برخې نثر ته، زه دا ځل د تخلیق په دې برخه کې خپل ځان دې وګړو ته وړاندې کووم. دا مې د پیل ګام دی زه وینم چې دا لیکل شوې ګډې وډې څومره بدلون راولي ( له مسکاله تر دې حاله) له کوم ډول هرکلي سره مخ کېږي.

په همدې ځای کې له تا ګران لوستونکي ډېره مننه کووم چې دا کتاب لولې، شاید ستونزې به ولري دهغې راته ښښنه وکړئ او که راسره مو شریکه کړه نو احسان به مو وي.

زما څو تنه خواږه یاران دي هغوی راسره د دې کتاب په چاپ کې له زړه هراړخیزه مرستې وکړې یاد یې ډېر ضروري ګڼم.

په سر کې مناسبه ګڼم چې د خپلې کورنۍ یاده وکړم، ځکه یو بلالی دوی ظاهر او بیا یې د تخلیق په نړۍ کې وزیري کړ، زه د دې کتاب ټول کرېډېټ (اعتبار) د دوی په نوم کووم.

په ځانګړي ډول د ګران نیکه، کاکا زوی رستم شاه او خپل کاکا (شاکرالله) څخه مننه کووم چې تل یې زه په ملا ډبولی یم او د مخکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

له مسکاله تر دې حاله! ۱۰/۱

تګ روحیه یې راکړې ده.
له ګران او خواږه ملګري دین محمد حیران ښخه من من مننه چې د دې کتاب په چاپ کې یې مالي مرسته راسره وکړه. له ګران دوست انجینرعلي شباب ښخه د مننې د ادا کړنې کلیمات نه لرم، په خپلو نازکو ګوتو یې د ناول کمپوز وکړ او د دې سره سره یې راته د کتاب اړوند ګڼې مشورې هم راکړې.
له ګران هدایت نور ستانکزي ښخه هم د زړه له تله مننه کووم، چې یو شمېر نقطعو ته یې متوجې کړم او سالمې مشورې یې راکړې.
له نورو خوږو ملګرو هر یو عبدالله بهار، ګل محمد شېرزاد، فضل الحق سعید، امید لطیف زي، بشیر احمد شیرزی، انجینر فرید امین، بصیر احمد فیصلي، غیرت مهمند، صفي الله ناصري او عمران حیدر ښخه هم مننه کووم چې تل یې ماته هر اړخیزې او ښې مشورې راکړي دي.
د شهباز خپرندوي ټولنې له درانه مشر حزب الله شهباز ښخه نړۍ نړۍ مننه چې په ورین تندي یې د کتاب د چاپ او خپریدا چارې په غاړه واخیستې.

په پښتنه مینه
بلال ظاهر وزیري
۱۲\۱۴\۱۳۹۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له‌مسکاله‌تر دي حاله !

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مازیګر لمر په پرپوتو و !

جلال اباد ښار ملنګ جان واټ کې غورځنګ له لاسه نیولی وم، ما د پښتونستان څلور لارې ته ځکه کش مکش کاوه، چې په دغه خوا مو کور و. مازیګر چې به له دندې راغلم بې انتها به ستړی وم، هر مازیګر به راسره همدا تلوسه وه چې کله به تر کور رسمه او د ابیې د لاس لاچي دارو چایو ګیلاس به له غوړه نیسمه

خو غورځنګ بیا په ملنګ جان واټ ټینګار کوه، دا چې غورځنګ مې د راز او نیاز ملګری و ماته به یې له نیازه ( خانه) غږ کاوه، او زه به ورته په (ګل پاڼې) مخاطب کېدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښاغلي خاطر دروند و زه هم ورسره تم شوم د پیغام منور د موسیقی له دفتره لږ څه وړاندې، په یوه بې چاره هوټل کې مو د چایو په لېست کې ځان ثبت کړو. غورځنګ چې په کوزې پښتونخواه کې ژوند کړی و، نو ځکه یې تل د شېدو چای څښلو او نوموړي سره په یو ځای کېدو به اړ وو چې باید د شیدو چای څښل ورسره ومنو. نوموړي د چپ لاس په څنګل ډډه ووهله پښې یې وغزولې، ماته ځیر شو یوه شېبه غلی و بیا یې وویل یو ښه خبر درته لرم که د چایو سره څه را اخلې ما جیب ته د چپې سترګې په کونج غلي غلي ولیدل د جیب ځواب منفي و، ور زیاته مې کړه د ګل پاڼې ځو ته خو اوس سوداګر یې ټول ښار دې په خپلو مشروباتو لړلی دی، د ښار ټولو دوکاندارانو سره اړیکې لرې ،غورځنګ مسکی شو ویې ویل که را اخلې او که نه؟ ! زه کار نلرم ما ورته کړه څه ته یې را واخله پیسې به یې میاشتني تنخواه کې درکړم.
زموږ تر مینځ پیسو کوم ارزښت نه درلود خو هسې یوې شېبې خندا ته به مو پلمه لټوله، غورځنګ ووتو او له ځانه سره یې سمبوسې راوړې په هوټلي یې غږ کړ یو چاینک د شیدو چای هم راوړه.
دې سره یې ماته مخ راواړوه چې خانیه ! بیګا مشر ډاکټر صیب سره یوې انجلۍ اړیکه نیولې وه،له خبرو داسې معلومېده چې کومه ډاکټره ده زه ورنېږدې شوم چې تر څو پوه شم چې ځوانه ده که بوډۍ؟
غږ یې تاند و کله چې مشر ډاکټر صیب د موبایل کرښه پرې کړه د فیس بوک (مخ پاڼې) په پلمه مې ترې موبایل واخیسته راغلو اړیکو ته لاړم ګورم چې په سر کې یې د ډاکټر پاڼې په نوم شمېره ثبت وه ژر مې ترې خپل موبایل ته واړوله موبایل مې بېرته ډاکټر صیب ته ورکړ.
ټوله شپه مې پاڼې ته پېغامونه او زنګونه وکړه ځواب یې رانکړ، خو ما ورزیاته کړه (ګل پاڼې) نور څه کوې؟ سم ټیکدار دې له ځانه جوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی ایې هی. تاجکه، ازبکه هزاره او ...
اوس دې په پښتنو پسې هم را واخیسته په خندا شو او ویې ویل پښتنو ته نصیحت کووم چې ځوانان یې بې لارې نه کړي. ما ورته وویل ښه نو زه دې د څه لپاره راوستی یم راته یې کړه د میرنې په نوم مې یو دوست راځي تاسې سره هم اشنا دی که په یاد مو وي د ښبوې په یوه رسمي سفر کې راسره یو ځای و ، ښاښا ومې پېژنده هغه چشمکي یادوې هههه.. په هغه ورځ یې د کبوتو په مهال چینارګل ته وویل چې یاره تا خو له حیا خلاص کړو هههه بلکل هماغه دی، دا ځای مې ورسره وعده کړې ما ورته وویل سمه ده موبایل دې راکه چې سوډان(چینارګل) هم راوغواړم.
چینار ته مو له ډېرې مینې سوډان وایه چینار ډېر نرم مزاج خندان او صادق انسان دی. غورځنګ د موبایل په راکړې سره دنده هم راکړه چې بیرون دې شمېرې سره هم اړیکه ونیسه د مېړني شمېره ده شاید نبږدې وي، زه موسک شوم او د ځپلیو د پېړمو په ترلږ ـې زیاته کړه چې صیب امر مو اجرا کېږي. ځان سره مې ؤویل بچو خانه له ډاکټرانو د ډاکټرانو شمېرې پټوې بیا یې مور. ته یاده کوې زه به دې هم خوښ شم دا چې چینار ته زنګ ووهم فکر مې د پانې شمېرې ته شو ژر ژر مې په خپل موبایل کې په مستعار نوم (داؤد ) ثبت کړ، چینار مې راوغوښت او مېړنی مې له لاسه نیولی هوټل ته دننه کړ له چای څښلو وروسته مو بنډار تالا ترغی کړ.
له هوټله په راوتو سره د بنډارونو له یوه بل خوږ او مبارز ملګري صفي الله سره مخ شو نوموړی هم زمونږ په څېر د عدم تشدد فلسفې لاروی او مینه وال و.
عدم تشدد په پښتنو کې کې یو اوږود شالید لري ،د دې فلسفې سر

(c) ketabton.com: The Digital Library



لارې ستر پښتون فخر افغان خان عبدالغفار خان بابا یا د استاد اسماعیل یون خبره د سرېتوب لاروي د نه تشدد نظریې خپریدا لپاره ډیره خواري کړې ده.

نو مونږ به هم تل په شریکه د رخصتی په ورځ د بابا په مزار کې راټولیدو د بابا په کارنامو او اوس مهال د یو ځوان مبارز منظور خان پشتین په کارونو ؛ قربانیو او لاس ته راوړنو غږېدو له روغبړ وروسته یې عادتي لېکچر شروع کړ.

او ویې ویل عمران حیدر زنګ راکړی و، ویل یې علي شباب هم له ما سر دی او دوی هم له ځانه سره راواخله او د بهسودو د پل هوټلو ته راشئ.

موږ هم دریغ نشو تر ماښامه مو محفل په مرکو ګرم وساته قضا ماښام د خپلو کورونو په لور خواره شو. د اشترنګي ریکشې په وروستي سیټ کې ناست وم چې ښاغلي افضلي صیب د کاروان صیب بیت رامسج کړ.

ما مخکې له دې چې یې ولولم مضریت مې وکړ او پانې ته مې ولېږه نن یې ګیله په غریو نیولې انداز داسې وکړه

خلک په خپلو کارو بوخت دي په چا کار نه لري
د پیغام د رسېدو سره سم بېرته ځواب راغی

-وبښئ ! تاسې څوک؟

ما ورته ولیکل

-ډګر جنرال لایق افغان

شېبه ځنډ وروسته یې په پیغام کې لیکلي وو (هههههههه..جنرالان په ملنګانو باندې څه کا ؟ !)

وبښئ تاسې شمېره نا سمه کړې ده بیا مې پیغام ورته وکړ خو دا ځل یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب رانغی، دا وخت د تبليغي مرکز دروازې ته رسېدلی وم.
زنګ مې ورته وکړ شبکې ځواب راکړ( ستاسې ډايل کړې شمېره ځواب نه ورکوي) لا دوه قدمه به مې نه وو اخيستي چې پانې مسکال وکړ ما يې شمېره ډايل کړه مقابل لوري په خپ خپ خو زړه راښکوونکي اواز ځواب راکړ، هيلووو !
تاسې څوک؟ د ډاکټرې دې نرم غږ زما وجود مېږي مېږي کړ له کړتن سړي يې خبرې هېرې کړې. زه د دغې جادوګر غږ په خلقت کې غرق وم، ډاکټرې بيا راغږ کړ وروره تاته وايم څوک يئ؟ د ورور له نوم سره مې ټکان وخوړه د خيال نړۍ مې ويجاړه شوه ورته مې له خولې ووتل زه زه څه خير پرېږده يې که څڅڅه خدد دمت وي؟
هغې زياته کړه نه مننه خو بيا مزاحمت ونکړې، د هغې په غوښتنه مې د موبايل اړيکه پرې کړه زړه مې بې قراره شو. په اړه يې ډول ډول فکرونه ذهن ته راغلل حيران وم، چې څه وکم څه ډول قناعت ورکم څنګه يې ملګرې کم څه ډول کولی شم چې اړيکه ورسره وغزوم.
نو د زړه او ذهن پرېکړه مې په دې سره وشوه چې اول بايد په پيغام هوکړه وشي چې يو ځل هوکړه وشوه نو بيا زنګ که زنګونه.. د اغلې ډاکټرې څو خاصيتونه ډېر ښه ولګېدل د هغې له جرأت، اخلاق، قناعت او سالم تحليله متاثر شوم په پيغام کې مې وليکل:
(وبښئ مزاحمت مې وکړ)
هغې زياته کړه، نه هيله کوم.
دې هيلې نو زما ډېرې هيلې پيدا کړې. ځکه د موبايل پرې کېدو نه وروسته ما دا اميد نه درلود چې اغلې دې بيا وخت راکړي او زما ببولالې دې واوري. ځکه د پانې د ژبې فصاحت او بلاغت ډېر زيات و، خوږه لهجه او اصولي خبرې يې کولې د بل پيغام لپاره مې د موبايل

(c) ketabton.com: The Digital Library

له مسکاله تر دې حاله ! ۱۷/

سکرین له دې ټکو ډک کړ.

.هر یو غم به درنه لر کړم

خوشالۍ به در په سر کړم

زه به دومره مینه در کړم

چې دنیا به شي حیرانه

اخر کې مې زیاته کړه چې د دې ښائیسته شیرینې او مینې مینې انجلۍ نوم به څه وي؟

هغې یوه وړه خندا او لاندې یې لیکلي وو

د کومې انجلۍ؟

ما ویل ستا په (ستا ) سره یې پوره یو لمن خندا راولېږله بیا یې یو اوږد پیغام په دې ډول لیکلی و:

دروغجنه دا سړي ولې دروغ وایي (دې ښائیسته شیرینې مینې مینې انجلۍ ) نو زه تا چرته ولیدم؟

وااا ډوزماره په ډوزمار سره زما خوله د خندا له کنټروله پاتې راغله داسې په کړس کړس مې وخندل چې د ټولو دوکاندارانو فکر ماته شو.

ځکه مونږ به کله کله ډوزمار ښاغلي چنار ګل ته ویل که چنار به رښتیا خبره هم وکړه نو ما او غورځنګ به په موسک انداز یو او بل ته وکتل چې بیا یې ډوزه اوویشته چنار به قسمونه کول چې باور وکئ رښتیا وایم تاسو ته زما هره خبره ډوزه ښکاري

له خندا وروسته مې ځواب ورکړ

-چې ستا د غږ او کلیماتو مطابق مې ذهن کې ستا څهره انځور کړه او ډېره خوږه ولګېده او بیا خو ښائیست څه په څهره کې نه وي ،انسانیت او اخلاق له هر څه ښه ښائیست کیدای شي.

هو دا خو منم

(c) ketabton.com: The Digital Library



وبښئ دا (ای ای) راته مناسب نه ښکاري ښکلی نوم مو ؟
هههههه ولې درته مناسب نه ښکاري؟
د چا خبره( شرماږم ) ههههه ځکه چې دغه یې دغې ته وایي.
څوک چا ته؟
میرمنې یې خپل د ژوند ملګري ته وایي هغې وخندل او زیاته یې کړه
دپروران یې.
نوم مې ائینه دی خو په کورکې راته شینکۍ وایي
په څه بوخته یې؟
هیڅ نه د کور کارونه او بس...
څو کلنه یې ائینې؟
دوه ویشت کلنه
کور مو په کومه خاوره دی؟
تورغره کې
زده کړې دې کړي دي؟
تر دریم ټولګي
دروغ مه وایه دا پیغامونه او تر دریم ټولګي ښوونځی...
ته څه فکر کوې؟
زه خو وایم شاید لسانس به یاست
ههههه... سمه ده نو چې ته وایې
رښتیا ووایه چېرته او سېږې؟
کلي کې کنه.
فکر نه کووم
باور وکړه ډګر جنراله !
ههههه ډګر جنرال !

(c) ketabton.com: The Digital Library

له مسکاله تر دې حاله ! / ۱۹

هو کنه تا ویل ښاغلی قدرمن ډگر جنرال لایق افغان

سمه ده نو

د پاڼې له قوله چې د دې پیغامونو په بهیر کې مې مور ته ستا نه شکایت وکړ.

چې یو څوک دې ډېره یې په تنگه کړې یم مور مې راته وویل چې کوم اوزگارخېل به وي کار پرې مه لره ځواب مه ورکوه، په ورته مهال مې ستا پیغام خپلې خورلنې وړانگې ته هم لېږه او هغې به راته ښودانه کوله چې داسې وکړه وخانده، غصه شه او داسې نور...

ائینې !

بلې

دا چې د پاڼې خبرو په ما ډیر اغېز کړی وو نو ما هڅه کوله چې نومورې د مینې په دام کې گېره کم، خو دا کار دومره اسانه هم نه و.یو چاته د مینې څرگندول ډېر جرآت او لوې زړه غواړي د مقابل لوري زړه ترلاسه کول وړه خبره نده هنر ته اړتیا لري چې څنگه یو څوک په ځان مئین کړې خو ما غورځنگ سره په گرځېدو دا جرآت او هنر زده کړی و.

څکه غورځنگ پدې کارونو کې ډېر ماهر و د دې ترڅنگ پرې الله ج ښکلې څهره هم لورولې وه څکه هغه به هره ناسته (غونډه)له داسې ډیرو پېښو او پړاوونو تېرېدو ، نو ما هم فکر وکړو همدایې وخت دی چې له زده کړې جرآت او هنر څخه گټه پورته کم نو زړه مې د زمري کړو او په خورا مؤدبانه انداز می دا پیغام ولیکه یوه خبره کوم خفه کېږې به نه، هغې وویل نه مهرباني !

څکه په اوس وخت کې دا خبره کول مناسب هم نه ښکاري خو زه مجبور یم چې باید ویې وایم، هیله ده چې تاسو هم مثبت ځواب راکړئ او زړه مې مات نکړئ !

(c) ketabton.com: The Digital Library

له مسکاله تر دې حاله ۱/۲۰

مهرباني وکه که د منلو وي په سترګو منم يې
وعده وکه چې غصه کېږې به نه
سمه ده مهرباني •
باور وکه وېرېږم چې موبايل دې راباندې بند نکړې
نه يې بندووم مهرباني
په ډېرې سختۍ او تړتمۍ ژبه مې ووېل چې
مينه درسره لرم
څڅڅه څه څه...؟
دا څه وايې لېونيه لا خو !
په خدای باور وکړه
له ځانه لېونی مه جوړوه لايقه مينه دا نه ده چې (مينه درسره لرمه) ډېر
څه د دې کوچنۍ خو درنې کليمې تر شاه پراته دي.
څنګه؟
بس نو ماشوم نه يې !
باور وکړه ائينې پوه نه شوم
کله درد، غم، ژړا، بيلتون، قرباني که د سر په بدل وي او زه د دې
اړيکې تړون دومره په احساساتو نشم کولی
ائينې ! رښتيا وايم
نه يې منم
افففففففف...
بس نو فيصله به وخت ته وسپارو
نه نه نه ائينې زړه مې چوي !
حوصله لايقه ته په احساساتو کې يې
زړه مې تنګ شو او زنګ مې پسې ووهه په چالاکۍ سره ورته سر شوم

(c) ketabton.com: The Digital Library


له مسکاله تر دې حاله ! ۲۱/

چې ژر کوه ووايه چې لايقه زه هم درسره مينه لرم
دا وخت نو د ملک اباسين د حجرې تر څنګ د سيند غاړه کې ناست وم.
لايقه ! دا ته څه وايې مينه د خولې خبرې نه دي عمل غواړي او عمل يې په پښتنه ټولنه کې په سرو لمبو کې لوڅې پښې مزل دی.
نه ائينې حتمي به يې وايې
څه په پيغام کې يې درلېږم
خو يو ساعت وخت راکړه که ځواب مې منفي و بيا به هم نه خفه کېږې اړيکه پرې شوه.
تاسو پوهېږئ چې انتظار د زړه وينې وچوي لکه د تږي مار به تاوېدم راتاوېدم کله به کېناستم او کله به ودرېدم.
يو شاعر څه ښه ويلي دي
لا ناست نه يم چې پاڅم ولاړ نه يم چې کينم
دا وخت راباندې ولې انتظاره نه تېرېږې
څو شېبې وروسته...
پيغام راغی ته څه ثبوت لرې چې ماسره رښتينی يې؟
ګوره ائينې اړيکه باور دی
پوهېږم خو زه مې زړه ته څه ډول قناعت ورکړم؟
يو څه شته، که ارزښت ورکړې
څـــــــه ووايه؟
د مور په سر سوګند
له پيغامونو معلومېده چې د قسم په اورېدو پانې تغير کړی همداسې وشو.
زياته يې کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نالیدلی مینه، نالیدلی پاچې صورت

له مسکاله تر دې حاله ۱ /۲۲

بسس بس بس... لایقه ! مینه درسره لرم I love you (دوستت دارم) ما ته خپله مور ډېره گرانه ده.

اوس نو واوره

نوم مې پاڼه دی تخلص امین کوم اصلي د تورغره یو. او اوس کلي کې اوسېږم، تر اوسه مې د ننگرهار په عامې روغتیا روغتون کې دنده درلوده. اوس د تورغره روغتون کې په دنده بوخته یم ،له ماسپښين وروسته همدلته په یوه طبي علومو انستیتیوت کې استاده یم، کاش یو څه موده مخکې سره مخ شوي وای، د عامې روغتیا د کوچنیانو په واټ کې مې دنده وه.

ښاااا پاڼې گلې ! خوښ شومه له پېژندنې او له باوره مو، زه لایق افغان یم له دې مخکې مې د کرېږ په بېز کې دنده وه د ملي پوځ یو تن بریدمل وم

-ښه ډېره ښه ده

زما پلار هم په ملي پوځ کې افسر دی

اوس مهال په یوه فرهنگي دفتر کې چې یوه بهرنۍ اداره یې ملاتړ کوي ورسره په دنده بوخت یم

ډېره ښه ده لایقه اصلي د کوم ځای او اوس مهال چرته مېشت یې؟

اصلي د کوټ ولسوالۍ یم اوس مهال جلال اباد ښار اوومې ناحیې اړوند تبلیغي مرکز سره اوسېږم.

ډېر ښه لایقه خسر مې څه کار کوي؟

ههخخههخهه... سعودي کې دی

سمه ده نو ولې دې وخندل هه؟

حیرانونکې ده خسر مې؟

خو لایقه تا ته خو ما وویل چې دا اړیکه ډېره سپېڅلې ده او پالل یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سخت دي، خو ستا تینګار و او د مور په سر دې قسم وکه کنه ما نه منله چې مې ومنله او ستا هم همدا غوښتنه وه اوس خو به ضرور د دې اړیکې پایله د ژوند یوځای کیدا (واده) وي.

په همدې ډول زمونږ اړیکې دوام درلود هره ورځ به مو په ساعتونو ساعتونو خبرې کولې.

یوه ورځ یې د خبرو په منځ کې زیاته کړه زه نه غواړم چې په راتلونکې کې له کومې ستونزې سره مخ شم نو اړتیا ده چې د اوس څخه ستا او ستا د کورنۍ ځیني غړو له نومونو او ستا د کلتور رواج او خویونو سره ځان اشنا او عادت کړم.

او ته به راته یو یو ښایې ستا سې کورنۍ یعنې زما راتلونکې کورنۍ خوابنې جانه، خسر جان، لېورونه، ایندرورګانې او نور څه ته ارزښت ورکوي په څه خوښیږي او څه یې بد راځي؟

چې زه ورته ځان هماغسې عادت او چمتو کړم

او که کومه نیمګړتیا را په کې وي چې اصلاح یې کړم لایق جانه!

واه پانې ګومره ښه فکر لرې ان شاالله د وخت په تېرېدو سره به یو بل ښه وپېژنو او د یو بل د کورنې او ټولنیز ارزښتونه سره به اشنا شو.

لایقه! ته په کوم نوم خوښیږې چې زه یې درته له واده نه وروسته اخلم؟

خاوند مې؟

نه نه لایقو به درته وایم سمه ده؟

سمه ده څه چې تا ته ښه ښکاري ښائیسته انجلۍ؟!

ښاا ته راته ووایه ته په کوم نوم خوشالیږې پانې؟

خو کوم نوم پکې چا راوستی دی راته وایه زما غټ سترګې میرمن جانې ههههه...

ولاکه یې درته ووایم

(c) ketabton.com: The Digital Library

له مسکاله تر دې حاله ! / ۲۴

ولې لایقو ؟

ځکه ته چې ماته لایقو وایې زه به درته پانګه وایم

سمه ده نو لایقو

ای د غوا لورې د مور نوم دې څه دی؟

هههه ولې درته ووایم چې ستوریه او ها رښتیا هغه ائینه او شینکی

مې خویندې دي یوه بله پېلوځه نومېږي او واده شوې هم ده او بله دا

چې پلار سره مې نه لګي ځکه د هغې نوم مې هم درته وانه خیست نو

یې نشم اخیستی زړه مې درزېږي

ولې؟

بس تېرېږه ترې مشر ورور مې سپین غر نومېږي د کلي د روغتون مخې

ته هټۍ لري دوه نور ورونه مې پښتون او ځراغ... ههههههه او نیا مې

جانورو نومېږي خو یوه خدای وهلې شیطانه ده چې...

هههه سمه ده نو د غوا لورې

دا د غوا لور راته مه وایه لایقه په مورد هره خفه کېږمه

کېنه د غوا لورې دا زما تکیه کلام دی

افففف باور وکړه زور راکوي

درکوي دې نو زما یې څه؟!

سمه ده نو د غوا زویه ! هههههه...

شاباس قربانت شوم، قربان بیخم دا (قربان بیخم) څه ته وایي؟

دا په پشه یي ژبه کې وایي قربان دې شم

پانې ! زه سبا پخیر روان یمه یو ټرینینګ ته پانې.

همدلته جلال اباد کې دی؟

نه نه کابل خوشحال خان مېنه کې پخیر

ما نه ورې لایقه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

لەمسکالەتر دې حالە ! / ۲۵
هههههه.... (ملا او دومره طالع)
رښتیا وایم لایقو
سمه ده نو د غوا لورې بیا د غوا لورې
ایې د غوا څو !
ای کاش لایقه چې واده مو شوی وی ،او ما درته په خپلو لاسونو د اړینو توکو بیګ تیار کړی وی.
په تلو تلو کې مې بې شماره ښکل کړی وی
ههه د غوا لورې یواځې د بیګ تیارول، دا خو زه هم کولی شم دا دومره لویه شپه چې تیریده، دې کې به دې څه کول هههه.؟
ویده کیدم به کنه څه به مې کول؟
ههه تو خه تو خه هههههه....
ای سپین سترګیه شرمیږې نه؟
نه ولې د واده وروسته کیسه ده نو !
سمه ده نو ، خه پاتې د شپې درې بجې شوې سهار وختې کابل ته سفر لرم د اوس لپاره ښه شپه.
نه نه داسې خو نه کیږي
ولې؟
یوه پپه لا... بیا ویده شه لایقه !
افففف واخله
اممممممممم چک... خوږه وه اوس نو زه درته ویښتو کې ګوتې وهم ته ویده شه، سهار دې څو بجې پاڅوم؟
پنځه او دیرش به مې پاڅوې خوږې
ولې لمونځ؟
بس کړه د ملا لورې !

(c) ketabton.com: The Digital Library

له مسکاله تر دې حاله ! / ۲۲

ای هې نو قسمت دې ښه دی چې نېږدې نه یو که نه ټول بدن به دې په غاښونو کندې کندې وه، لمونځ ولې نه کوې د غوا ځویه؟
ښااا سمه ده ښه شپه کړته کړته څومره خبرې کوې لا ځو
تا ته هم ښائیسته، خاوند مې بای بای

• • •

جان مې پاځه کنه. لایق جان مې ناوخته دی لایقو پاځه کنه لمونځ وکه ای لایقه ! ستا خو لا مور...تا ته وایم لمونځ قضا شو !
په دې پیغامونو زه نه وم پوه شوی زنګ راغی پوره شپږ او دېرش دقیقې وې د موبایل د توکمې په کېکاږلو سره غږ وشو:
لایقو پاځه کنه. پاځېدلی یې؟ او سمې خبرې ولې نه کوې هه تا ته وایم پاځه کنه مړو !
پپپپاځېدم یاررر...د غوا لورې
ښه شکر چې پاځېدلې، هله نو اودس وکړه لمونځ په قضا کېدو دی بیا به د تلو تیاری نیسې.
سمه ده جان مې !
له کوره ووتم د ملنګ جان واټ څخه د کابل په موټر کې کیناستم...
په ټوله لاره مو پیغامونه په زړه چاودون سره وکړل ځکه کله به په لاره موبایل کار کاوه او کله نه، خو د سروبي بازار کې هوټلونو ته ودریدو چې د پانې پیغام راغی...
(لایقه که غږ دې وانه ورم نو بیا مې جنازې ته راشه نور نو یوه دقیقه بې له تا نشم زغملی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



زنګ مې ووهه د پاڼې خوله له ژړا نه تولېده، احساسات یې نشو کنټرولولی. په ژړغوني انداز یې وویل بد نصیبي ګوره نن له مرکزي دفتره زنګ راغلی و، سبا زموږ هم په فاطمة الزهرا روغتون کې ټرینینګ دی.

دې سره زه غلی شوم، بیا مې وویل څومره وخت لپاره دوام کوي؟

بس زما هم یوه اونۍ دوام کوي، له دې خبرې وروسته زما فکر هم خراب شو ځکه فاطمة الزهرا روغتون زموږ د کور سره نېږدې پروت و.

پاڼې زیاته کړه، لایقه څنګه غلی شوې؟

نه نه پاڼې څه خبره نشته (؟)

پوهېږم لایقه، خو ته مه خفه کېږه کوښښ کووم چې ستا تر راتلو دلته پاتې شم بابړیانو کې مې د ترور کور دی او که ونه شو، ته چې له کابله راځې زه به دې سترې مه شي ته خامخا راځمه.

سمه ده جان حرکت کوم بیا موبایل کار پرېږدي

خاوند ته مې ښه سفر... او مېرمن ته یې په اوښکو ډېې اننګي

نه نه پاڼې ! داسې مه کوه که زما خوشالي غواړې، نو زما لپاره په ځان پام کوه.

سمه د په سترګو لایقو تر کومه چې دې موبایل کار کوي نو پیغامونه رالېږه

-ښاااا سمه ده، زه به د موبایل تر کارېدو چاپېږیم

کړنګ پیغام راغی، لیکلي یې وو:

ای دا ته ماته مېرمن ولې نه وایې؟

هههه.. مېرمن خو مې یې پاڼې، نو تکرار ته څه اړتیا...(؟)

ښه سمه ده نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



.

.

جان مې لالې دې کابل ته ورسېد
شکرونه چې پخیر ورسېدې، دمه شه ستړی شوی به یې، سبا به وختي سیمینار ته ځې.
هو رښتیا کابل کې چېرته پاتې کېږې؟
ملګري شته دي، که نه میوند واټ ورته وایي هلته پکتیاوال میلمستون کې کوټه نیسم
سمه ده اوس ویده شه جان مې ښه شپه او ښه خوبونه
تاته هم پانګې... بای بای

● ● ●

په اړخ واوختم، سترګې مې وسولولې، تلیفون ته مې زنګ و.
افففف یو خو دا زنګونه، دا خو پاڼه ده
بلې...بلې !
بلې ملې پرېږده
لمونځ درنه قضا کېږي او ما هم خپله باربستره چمتو کړې ده، چای څښم او بیا نو د ښار په لور درومم.
ستا شپه ښه وه لایقه؟ ما خو په ژړا ځان وژلی، ته لېونی مې یادېدې د سترګو ګاتي مې تر اوسه خوږېږي
پاڼې دا لیونتوب مه کوه دا ته څه بلا یې؟
خو څه وکړم تر اوسه خو تنها وم، اوس مې وجود په دوه برخو ویشل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی دی یو ته یې لایق او بل ته پانه وایي. ستا د لیدو لپاره مې ټوله شپه فکرونه کړي دي همدا سترګې مې نه وې ورغلې چې په خوب کې راغلې...

له رنګه غنمرنګ، جیګه پزه، غونډه مونډه خوله، منځنی تور ویښتان، له وجوده نری او یو غټې سترګې...

ګوره پانې دومره تشویش مه کوه دیدن به مو وشي زه هم ستا لیدو ته لېواله یم خو خوب دې هم په زیاته سلنه ارخ لګوي...هههههه

او څه به ووایم د الله ج له نامې ځار شم چې په دې دور کې ته له فیسبوک،انستیګرام، واټساپ، ایمو، ټویټر او نورو خواله رسنیو لرې یې...

لایقه مور کلیوال خلک یو، دا کوچنی موبایل که چا راسره ولید تر شلم کلي مو غیبت کوي او ته لا خبرې د سمارټ فون کوې توبه توبه. هههههه

ولې خاندې پانکې؟

هسې دلته د ښنترې توری په نوم یوه مشره ښځه ده، وایي کاش ستا په شان زما هم پښې سپینې وی. ډاکټرې داسې راباندې ښه لګې چې دې ونه ګورم طبیعت مې ټوله شپه ګډوډ وي.

بس داسې چاپېره وي بېچاره

هههه.. بې چاره نه ده د بې چاره لورې، هسې نه ټوخه دې کړي، شی دختر باز دی.

ای ناولیه ! ګنهګار برې مشره او زړه ښځه ده

سمه ده نو زه دفتر ته راورسېدم پانې ګلې !

شکر، لایقه زما یو ساعت وشو په علي اباد کې لاره بندی کې ښنتې یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايي مخالفو وسلوالو په لاره کې بمونه ايښي د هېواد زړوره ملي پو
يې راوباسي.
دا څه وايې پانې؟
زه او خدای لايق جانه !
ته وګوره يو ډولي رينجر دی، شا ته پکې چوکۍ دي، درنده وسله پکې
تړلې ده، دواړو خواوو ته يې دوه غټ ټايرونه لګېدلي، ډېرې انتنې
پرې تړل شوي دي او ۲۵۱۱۲ يې پلېټ نمبر دی.
دلته خو نشته...هااااغه دی ومې ليده لکه ناوې، ههه د تيلو ټانک سر
خوا کې ولاړ دی.
پوهېږې د غوا لوري دا زما موټر و، دا ما داسې جوړ کړی و شپږ کاله
راسره و.
دا څه وايې لايقه بس اوس دا بله دنده شوه، چې څمه او راځم دې رينجر
ته به ګورم او ژاړم به...ربه صبر راکړې !
ای لېونۍ له مينې دې مننه خو ډېرې ژړاګانې مه کړه ما دردوې، زه نور
پيغامونه نشم دراستولی زموږ درس پيلېدونکی دی او ته شېبه په
شېبه خبر راکوه ستا پيغامونه ليدلی شم
سمه ده زړګيه !
لايقه لار خلاصه شوه
حرکت مو وکړ
پيرصيب زيارت ته راورسېدم
سره رود دو سرکه کې يم
اند پښنه ونکړې
د روغتون مخې ته ښکته شوم جاااان !
جانک ته تر دمې ښې چارې

(c) ketabton.com: The Digital Library



● ● ●

لایق جانه ! وبښه پیغامونه مې نشو دراستولی
پانې ګلې ! تشویش ونکړې روغتون نه څو کوڅې لاندې زموږ کوردی
که هر څه ته اړتیا وه پیسې، خوراک، څښاک، د شپې لپاره هم مکمل
غږ کولی شې.
نه نه مننه ژوند مې
دلته مې د تروورکور شته، پیسې هم شته یو اځې ستا کمی دی.
لایقه د چکنوریو په ساحه کې خو مې له چا سترګې نه سوځي ځکه دا
مې د خاوند کلی دی هههههه....
لایقه د استاد په مخ کې ته یې، دیوالونو کې ته یې، تختنه کې ته یې،
درس ته مې هیڅ فکر نشته دا څه راوشو؟
ټولې ملګرې راپورې خاندي، خبر یې لایقو !
وړانګې ته مې کیسه وکړه چې د لایق مینې رانه ملنګه جوړه کړې ده،
وایي ته او لایق به ماته شیریني راکوی، ځکه ټول کار مو ما وکړ.
هههههه... پانې څه که خیر و درځم، وبه ګورو اندېښنه مه کوه د
وړانګې شیریني له غره نه لوړه او درنه ګنم. حق یې دی او بله مې دا
خبره کوله جان همدې روغتون ته مخامخ، د تیږو په سرک مې د یوه
ګران وړور چینارګل چې زه ورته د مینې نه سوډان وایم کور دی.
دا شمېره یې درواخله کولی شې، چې مرسته درسره وکړي.
سمه ده جان مې !

(c) ketabton.com: The Digital Library



• • •

ای د غوا ځویه ! چینار زنګ راکړی و شمېره مې تا ورکړې وه؟
هو بې غمه اوسه هغه مکمل باوري انسان دی یو چینار او بل غورځنګ له ورونو راته ډېر ګران دي.
چینار درته څه وویل؟
ویل یې خور جانې زه د لایق ورور یم، ته لکه چې جلال اباد کې ټرینېنګ کې یې، که کوم امر خدمت و له زړه ډاډه غږ راکوه.
بس همدومره...
خو له خبرو ډېر دروند انسان معلومېده، د څومره وخت راهیسې یې پېژنې...؟
دوه خبرې دې ورسره څه وکړې، اوس یې په هکله پوښتنو ته ګوره افففف نو دا ښځې هم عجب مخلوق دی؟ !
ښااا مه یې وایه لایقه ستا لکه چې بدګمانۍ نه بل کار نشته، ورور مې دی.
ښه پانکې دا خو له ډېر وخت راهیسې پېژنم.. ښه ده چې یې پېژنې یې ما ته څه؟
واوره نو !
نه یې اورم...
واوره کنه بیا اړیکه پرې کووم، ښااا سمه ده نو ووایه څنګه یې پېژنې...؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



● ● ●

د نن څخه تقریباً اته کاله وړاندې د کورنۍ سرپرست شوم، زه وړوکی وم د کلي د ښوونځي په نهم ټولګي کې زده کونکی وم.
یوه ورځ مې د مور په چادو پوندو نظر شو، د ټیکري په سوریو کې یې ویښته راوتي وو، لمنه یې څو ځایه سورۍ او شلېدلې وه.
کوچني ورونه مې د بکسي او کتابچو په ارمان ښوونځي ته تلل او راتلل، دې وضیعت ته فکرمند شوم چې څنګه بدلون ورکړم(؟)
د ملي پوځ لیکو ته په تګ مې زړه او ذهن مشوره راکړه، د کرکټ بیټ مې په تبر ټوټه ټوټه کړ، کتابونه مې د کلي رود ته ورواچول او د ولسوالۍ پر لور روان شوم له هغه ځایه د ملي پوځ د رینجر په وسیله، د بهسودو کمیسارۍ ته انتقال کړای شوم.
مازیګر و په نهاره ګېډې نمجنې سترګې تراړې شونډې مې د کمیسارۍ دیوال ته تکیه وکړه.
شېبه وروسته یو لوړ بریتور سړی، چې برګه درویشي پر تن وه، ډېر ګلونه یې په اوږو کتار وو راڅرګند شو. له ټولو یې پوښتنې وکړې چې چا خو کور کې جنګ نه دی کړی؟ د کورمشرانو له اجازې پرته خو نه یئ راغلي؟... هلته جنګونه دي مرګ، زخم، ولږه، تنده هر څه شته په دې مو فکر کړی...؟
ځواب مو په هو ورکړ د دې سره یې په ما سترګې ولګېدې.
خواته راغی
هلکه ! ته څنګه راغلی یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



قومندان صیب ! ملي پوخ ته څم
لوچکه، لوفره ! ستا عمر ملي پوخ ته د تلو دی؟
په مخ دې لا ږیره نه ده راغلې، خامه خوله هلک یې احمقه! ته دې پاینسه پورته کړه چې په پښو دې ویښته شته که نه؟
نه نه قومندان صیب !
شابه عاجل ووځه، بیا دې دلته ونه وینم درې کاله وروسته راشه زه په ژړا شوم ورزیاته مې کړه...
قومندان صیب زه څم له یوې خوا کورنۍ ستونزې لرم او له بلې خوا هېواد سره لېونۍ مینه... ګوره وراره ! ته لا کوچنی یې هلته درڅخه خلک نورې استفادې کوي.
قومندان صیب ته پر ما باور وکړه، ځکه زه د یوې داسې کورنۍ زېږنده یم چې ټولو ځوانانو یې ځان په دې خاوره قربان کړی دی کوچنی ضرور خو بې غیرته نه یم.
ښاااا سمه ده نو ستا خوښه !
بریدمله ! د دې کار هم ورخلاص کړئ
... صیب ! امر مو اجرا کېږي
قضا ماښام مو له کمیسارۍ د کابل په لور حرکت وکړ، زما یوه جوړه توري جامې پر تن وې، بنین یا کورتۍ خو څه کی چې زېرپېراني مې هم نه وه. او له دې مخکې له درونتې اخوا نه وم تللی، د کاستر موټر په وروستني سېټ کې ناست وم.
په لاره مې منظره کوله چې کلینر راځخه تلیفونونه هم ټول کړل، د ماهیپر په غرونو د سپینو واورو شال غوړېدلی و.
کاستر د جلب او جذب قومندانۍ مخې ته تم شو، له شیبه ځنډ وروسته غړ وشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(تا شویه....)
زه په دری ژبه هم نه پوهېدم خلک ښکته کېدل زه هم پسې ښکته شوم، يخنۍ نو ښه خوله لګولې وه نرۍ نرۍ واوره ورېده، د برق زيړې رڼا ښېله ښکلا وربښلې وه. د پلټنې ځای ته ورسېدم د يوه عسکر چې پواځې يې سترګې ښکارېدې راته کړه !
(دستايت بالا کو)
زه نه پوهېدم هغه په غصه شو
(برايت چه ګفتم او لوده؟)
له دې سره مې ښه عسکري څپېړه وخوړه، لاسونه يې راته پورته کړل په جيب کې مې يوه ماته هينداره او ږمنځ وه، راځخه يې واخيستل له څو ځايه سختې پلټنې وروسته داخل ولاړو اخوا ديخوا خاموشي خپره وه ځکه شپه نوره په پښېدو وه بهر مو ډېر ځنډ وکړ.
ما له يخنۍ خبرې نشوې کولې کينې دهلېز ته يې داخل کړو، ځېنو چالاکو او ګرځېدلو خلکو ځانونه کوټو ته ورسول.
موږ څو تنه بې خولو لا هغسې دهلېز کې ولاړ وو، برېدمل راغی څو څو پاپيونه يې ووهلو د دهلېز يوه سر او بل سر ته يې منډې راکړې نيمه شپه وه، زما برخه په دې وېش کې هم پاتې شونې وه او د چپرکټ دوهم منزل مې په برخه ورسېد ايله به مې سترګې ورغلې وې چې د چورک(شپيلک) شور جوړ شو د(بخيزين) غږ به مې تر غوږو کېده.
دا چې زه ستړی وم او داسې مې انګېرله چې زه په کور کې يم او خوب وينم، نو په همدې کې مې چپرکټ په لغته ووهل شو له توپ سره د چپرکټه په فرش را ولوېدم دلته مې بيا يوه عسکري لغته په برخه شوه، بهر مې منډه کړه.
بريدمل له ګريوانه ونيوم (اووو ديوانه کمپل تان جمع کو) ژر ژر راغلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمپل مې ټوله کړه.
بهر جومات و، ووتم دا چې د خولې طف مې په وریځو او بنو کې واوره کېده پینځه ویشت ورځې مې جلب او جذب کې په همدې ډول تېرې کړې. کله پخلنځی مینځه، کله خوړنځای مینځه، کله الوګان سپینوه، او کله واورې ټولوه د تن له جامو مې د چمبې پوست جوړ شوی و.
دا چې ما په کمیسارۍ کې یادونه کړې وه، چې زه زده کړې لرم په شپږ ویشتمه ورځ یې د نظام له سره څو تنه بیل کړو، ستر تالار ته یې انتقال کړو.
هلته په سوونو خلک راټول و، د دفاع وزارت ستر درستیز شېراغا کریمي او پېژندوال هم راغلي وو، د ازموینې لپاره یې پارچې راکړې سوالونه حل شول پارچې ټولې شوې.
دا ازموینه یې د۱۷۸۷ تنو واخېست، سبا یې د نتایجو د اعلان په پار راټول کړو، د بریالیو په لېست کې اوه ویشتم نوم زما خوار راغلی و.
دلته راته ښې زیاتې داسې لارښوونې وشوې:
(تاسې مورږ بهرنیو ځواکونو ته د تمریناتو لپاره لېږو باید هلته د خپل ملت او دولت ښه استازي وکړئ) ځکه چې تاسې ته تمرین ترکان او یونانیان درکوي، په منظم ډول یې ودرولو او په لیکه وار ډول یې له جلب او جذبه د کمپ غازي په لور حرکت راکړ.
د څو کوڅو او موړونو له تېرېدا وروسته راته کمپ غازي ښکاره شو، په دروازه کې عسکرو وویل چې څوک موبایل لري دلته دې پرېږدي مورږ موبایلونه ورکړل.
یو تن موبایل پټ کړی و هغه یې نو ښه د حلوا د خوراک کړ.
خوب خونې او چپرکټونه را په ګوته شول، دا چې زه په ښه درجه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کامیاب شوی وم، نو زه یې د اول ټولي اول بلوک اولې ډلګۍ ته ورکړی وم.

پینځه دقیقې وروسته چورک ووهل شو، د جم نظام میدان ته ټول شو بېرته یې راته د البسې(اغوستون توکي) اخیستلو په خاطر KMTC ته موزون قدم راکړ.

زما سلیپر بوټان واورو وهلي وو، د څو قدمو په اخیستو د یوه بوټ تلی د ځمکې په مخ پاتې شو او د بل غاړې هم راووتې، لوڅې پښې په یخو واورو کې تر KMTC لاړم.

د څو ساعته ځنډ وروسته د البسې تر ډیپو ورسېدو

البسه یې راکړه هلته یوه دنګه تور پوستې امریکایۍ مسؤله وه، ما په ډېر زحمت درویشي پر ځان کړه.

جرابې ډېرې کشک دارې وې، کله چې مې د لاسو غټې ګوتې جرابو کې ورکړې، پښه مې ورجیګه کړه نو لاسونه مې په یو خوا او پښه مې په بله خوا لاړه علت یې زما د وجود شخوالی ؤ.

ډېره خواري مې وکړه ونه توانېدم چې جرابې پښو ته واچووم، ډډه مې ووهله او د مایوسۍ غټې اوښکې مې پر مخ راغلې.

یوه بله سره سپینه امریکایي پېغله چې د منځنې قد درلودونکې وه، خواته راغله ډېر ځیر ځیر یې راوکتل بیا یې وویل (ډو یو هاف اني پرابلم؟) ژباړه: ایا ته کوم مشکل لرې؟

ما د هو په مانا سر وخوځوه هغې رنګارنګ نخرې پیل کړې، وه یې خندولم په انګلیسي به یې رانه پوښتنې کولې ما به هم مات ګوډ ځوابونه ورکول.

کېناسته او زما پښې یې وغزولې، د پښو تلي یې راته په خپلو لاسونو وموښل ایله مې احساس وکړ چې زه هم پښې لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې جرابې او بوټونه راپېښو کړل، لاس پوښونه(دستنې) یې له خپلو لاسونو راوویستې زما لاسو ته یې واچولې. په اشاره یې پوه کړم چې زه به اوس لاړه شم ما په اشارو ورسره مخه ښه وکړه. روانه شوه تر پښا کېدو یې پښه نېوه او شاته یې راکتل، بېرته مو د کمپ غازي په لور حرکت وکړ.

مازیګر یې یو وار مصرفوونکی د غاښونو کریم، برس او ځینې نورد اړتیا وړ توکي کمپ کې راکړل. سم له لاسه یې تشنابونو ته دننه کړو سر ګیره او بریت یې راباندې شنه کړل دا چاره نو د تمرین تر اخره روانه وه په اونۍ کې دوه ځل شنه کېدل حتمي ول.

په کمپ غازي کې اسانه سزا دوه ساعته په واورو کې د لاسونو او پښو دننه نیول وو، ډېرې سختې ورځې وې ترکانو له انسانانو تېرې جوړولې، یوه ورځ د لوا بریدمل راغی او د شاعر پوښتنه یې کوله، اخوا دېخوا مې ولیده، نور څوک نه وو. نو ما لاس پورته کړ دنده یې راکړه چې سبا مراسم دي باید دریځ چارې مخ ته یوسې.

ما د اجندا په اخیستو سره ومنله مراسم پیل او پای ته ورسېد. شېبه وروسته د لوا قومندان وغوښتلم ورغلم او ښه شخه سلامي مې ورته ووهله هغه له ورېښمي څوکۍ راپورته شو ځانته یې غاړې وویستم په مخ یې ښکل کړم.

بیا یې د ټولي او کنډک قومندانان راوغوښتل ورته یې وویل لایق له ګزمې، پهرې او هر ډول مجازاتو معاف دی څوک حق نه لري چې دا ازار کړي.

بیا نو مزې شوې د دریځ له چلولو وروسته، د ترکانو عسکرو به راته ځانګړی احترام کاوه. ښځو او نرو به ډالۍ راکولې او د یونانیانو په زړه کې مې هم ځانګړی ځای پیدا کړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د روزنیزې دورې ملګري به د هرې ستونزې دحل لپاره په ماپسې راتلل، او څوک به مې چې نه پېژندل هغوی به هم هڅه کوله تر څو مې ملګري کړي.

یوه ورځ د دریم تولي یو تن راغی له خوبه یې پاڅولم، راته یې وویل بیګا ته زما میلمه یې حتمي به راځې اشنا

. زه هم ورغلم هغوی لومړی چای راوړ او زیاته یې کړه یو څو غزلې راواوروه، چې له زړه مو زنګ لرې شي بیا به برړې وهو. ما به څو بیتونه نه وو ویلي چې یو تور رنګه هلک رانوت د کټ په څنډه کیناست ما غزل ته ادامه ورکړه هغه به زما د هر بیت سره موسک موسک کېده.

په ما یې دې کار بد تاثیر وکړ، خو د یارانو غوښتنه وه او بل دا چې شاعر وم حتمي به مې زړه تشوه. د دریم غزل له پای سره مې توره کی هلک څنګ ته راوړاندې شو راته یې وویل د مور ځویه د کوم ځای یې؟

ما ځواب ورکړ...

بیا یې وویل هسې ډېر زړور نه یې د مور ځویه؟

څنګه...؟

خو دا پردي شعرونه وایې ستا عمر او داسې لوړ خیالات٠د نه منلو خبره ده یارو؟!

څنګ کې ناست ملګري هم موسک شو، ما ورته کړه نه نه وروره خپل مې دي.

د مور ځویه ته خو وایې خو څه ووایم؟

ما ور زیاته کړه چې د وخت په تېرېدو به در معلومه شي، ډېر استاد یې ته په دې پوهېږې چې له (نورستانه څوک ژوندي نه دي راغلي) یا به دوه ورځې ژوند وي یا درې ورځې د مور ځویه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له مسکاله تر دې حاله ! / ۴۰

ځه بیا به یې هغې نړۍ کې درمعلومه کړم هههههه...
اجازه مې راواخېسته خپلې کوټې ته راغلم، بیا به مې چې دا سوډانی هر چېرته لیده غصه به مې راتله دوی به هر وخت راتلل خو زه به تری پټېدم وروسته له درنیمو میاشتو روزنې خلاص شو. د نورستان په لوري مو حرکت ته تکل وکړ ملګري یې تیت و پرک کړو. انټرنیشنل(پوځي موټر) ته پورته شو پردې راپسې کش شوې، خپلې چانټې مو سرونه ته کېښودلې او وغځېدو تر نورستانه ډېره لاره وه. څو شېبې وروسته موټر کېن لور ته تاو شو، ټول ښکته شو په یوه لوحه لیکل شوي و فرقه ۱۱۱ کابل (CFC) یو بل ته مو وکتل، دلته نو نظریات مختلف شول په الوتکو کې مو وړي(؟)
د شپې حرکت راکوي؟ دې ته ورته پوښتنې مو له ځانه پیل کړې...
کوټو ته ولاړو چانټې مو له ځانه ګوزار کړې او په کټ کې وغځېدم، شنه خولۍ مې لاندې پریوته لاس مې پسې ښکته کړ د سترګې یو کونج مې هغه توره څهره راواخېسته. حیران شوم مخ مې ورواړوه ګورم چې یار اوږد اوږد پروت دی، پښې یې لاندې ځوړندې کړې په یوه سترګه یې لاس ایښی په بله سترګه یې یو ډول سترګه ووهله او کړه یې، څنګه یې د مور ځویه؟
هر لوښی عسکرۍ ته راځې؟! په کړس کړس یې وخندل، ماته غصه راغله خو ځان مې کابو کړ. څو ورځې وروسته د هټۍ (کانتین ) خواته روان وم ګورم چې یو اړخ ته یې هغه تور کس ناست دی زما په لیدو یې سترګې پاکې کړې.. زه پرې شکي شوم غږ یې راوکړ وروره ! که هټۍ( کانتین )ته ځې دا پیسې ځان سره واخله ماته له ځانه سره سګرېټ راوړه.
ما ترې پیسې وانه خېستلې خو له ځان سره مې ورته PIN سګرېټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوړل، مننه یې وکړه ما ترې په (وړ یې نه ده ) اصطلاح ځان خلاص کړ. ترې روان شوم بیا یې غږ راوا چوه کېنه وروره چرته ځې؟

کېنه مړه عسکري ده بیا به نظام ولاړ وي ناوخته دی ولا داسې نمایشي پروتونه درکړي چې فکر یې ونه کړې.

زه هم کیناستم خبرې مو سره پیل کړې، شجرې مو سره راوسپړلې د توري نوم چینار و. د ننګرهار ولایت له شېرزادو څخه و، جالبه خو دا وه چې د چینار پلار هم اکرم نومیده او زما هم، پاڼې ګلې اڅهرې مو بیخي یوبل ته ورته وې.

کله به چې زه ګزمه وم چینار به خلکو بیداورلو او کله به چې چینار ګزمه و نو زه به خلکو بیداورلم بس ټوله شپه به لانجې وې.

یو ورځ د کنډک بریدمل په ما وینښتان کم کړل، شپېه وروسته چینار په مخه ورغلی و د هغې وینښته غټې و. بریدمل حیران و چې په تا خوما شپېه مخکې وینښتان کم کړل ته لکه چې پیری یې، همداسې ما یوه ورځ رخصت واخیست زه چې راوتلی وم نو چینار قومندان ته د رخصت اخستلو لپاره ورغلی و هغه ترې ښه د بوسو خوسکی جوړ کړی و. چې تاته خو ما یو شپېه مخکې د رخصت ټکېټ درکړ ته په ما رېشخند وهې؟!

او تر ټولو جالبه دا وه چې چینار زموږ کور ته راغلی و زه په کور کې وم، بابا مې چینار ته ویلي وو لایقه ځویه میلمانه راروان دي ته کور ته لاړ شه چای هم ووایه او کټونه هم له ځانه سره راوباسه هههههه ههههه.

د چینار سره مې دوستي جوړه شوه چینار نو په پاکستان کې B.A (انګلیسي اجتمعیات) کړی وه. ډېر با استعداده شخص و خپله کېسه یې داسې کوله.

( یوه جینۍ مې ډېره خوښه ده کورنۍ یې راته نه کوي بس زه هم ترې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دندې ته راغلم) او ربنتيا له پوځ وړاندې په ننګرهار کې د امريکايانو میدان کې مې د ژباړونکي په حیث دنده ترسره کړې ده، بس هلته مې زړه راتنګ شو او ترې دلته راغلم.
دوه میاشتې شاوخوا دلته په فرقه کې د رومانیانو په مرسته خبلو اتلانو عملي درسونه راکړل،
ربنتیا پانې زما او د چینار نظامي مسلک SPG۹ و. له هغې وروسته مو د شپې سېلاب قول اردو ته حرکت وکړ پينځه میاشتې مو دلته تېرې کړې او د روژې په اتلسمې ما سره یو څو تنو د شېرزادو ولسوالۍ په لوري حرکت وکړ او چينار د کنډک سره کرې بېز کې ځای پر ځای شو.
د ورځې نهه نيمې بجې به وې چې د میملې باغ سره زموږ په ډلې جنګ پیل شو، دا نو لومړۍ جګړې سره مخ شوي وو خو زده کړه مو ښه اخيستې وه د شپې شاوخوا لس نيمې بجې ولسوالۍ ته ورسېدو.
لا روژه په خوله وو ډېر تلفات مو ورکړي وو، ډېره سخته ورځ راباندې تېره شوې وه له خوړلو او څکلو وروسته یوه شېبه دمه شو.
پانې! په دوهمه میاشت چینار له بېزه په تېښته بريالی شو، او ما دندې ته دوام ورکړ له ډېرو سختيو سره مخ شوم له شپږ میاشتو ماموريت وروسته له شېرزادو بېز ته راغلم.
له دې ځایه یې وزیرو، شېرزادو، حصارک، پچیراګام او هسکې مینې ته د دندې لپاره وړلو په هره دنده کې به مو د دښمن کور هم ویجاړولو او موږ به هم له درنو تلفاتو سره ببرته ستنیدو. کله چې په رخصتۍ راغلم نو پېښور ته لاړم ځکه د چینار دوې کور پېښور کې و، د چينار ملګرې به ماته ځانګړی احترام کاوه ځکه زه د چینار ورور وم هغه يې بل چاته ورکړه چې تر دې وخته د چینار اړیکې په کور کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمې نه دي
نو دا وه زما او د چینار تر مینځ پېژندګلوي...
ښاااښا... سمه ده ما هسې یوه پوښتنه وکړه ته لکه د ماتې سرینډې
راخلاص شوې هههههه لایقه جالبه کېسه وه خدای مو له بدو سترګو
ساته جوړه مو کندوه مه شه
لایقه امینه مې نوره هم زیاته شوه څکه تا په پوځ کې خپل هېواد ته ډېر
خدمت کړی دی دا د ځان لپاره ویاړ ګڼم. داسې به ووایم چې تا سنګر
ساتلی بلکې د دښمن کور دې رنګ کړی او ما زده کړې کړې دي
ستا په خیر اتلان دي چې موږ امن کې یو. خدای دې د هېواد دا
خدمتګاره بچي او د نجات پرښتې زموږ له سره نه کموي
آمین ؛ ها ډېر برش مه لګوه... خهخهههههه
دا دی نو زما د سترو یار او دستي ستا په خدمت کې دی، شابه نو
ما خو خپل استازی دروړاندې کړ ته دې هم استازې راته راوپېژنه؟
اغلې ! پاتې امین صیب...
په سترګو دا شمېره واخله وړانګه نو مېړې زما خورلنه ده نارنج باغ کې
اوسېږي
سمه ده مننه دم ګړی الله په امان ښې شیبې
تاته هم جانان

●●●

ای هلکه !
سلام چینار یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل موبایل کې مې پیسې نه وې دا مې د ماما شمېره ده، ترینېنږ کې څه خبرې دي، خفه خو به نه یې؟
ته خو چې کابل ته لاړ شې بلا دې ووهي...
ولا ورو ره ښه یم هوا سره لږ حساسیت لرم
څه نه مرې مره ! ههه
ای ستا یارې ته مې زنګ کړی و...
ډېره اصولي پېغله وه، د کم اصلې څویه بې وفایي ورسره ونکړې ډېر درونډ خوی لري.
هههههه... سمه ده نو چې ته وایې ورور دې غلط ځای نه ټاکي.
ښه سمه ده هسې ما وې چې بله خور نه لري هههههه د مور څویه دواړه به باجه ګان شو ههه..
ههههه...
ای د غوا څویه ولې خاندې رښتیا وایم کنه !
وبه ګورم ورته وایم ته صبر د وړانګې په نوم یوه ملګرې لري مازیګر ورته یادونه کووم.
یاره مه خرابېږې بس ورور دې وي خو ستا په شاااان اممممم چک...
قربان شم
سمه ده سوډانه اوس درس کې یم د الله په امان

• • •

سلام پانې !
مورې خو رخصت شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ع سلام مو وړ هم اوس وخو پخیر لایقو
ای د غوا لورې ! دا وړانګه څه کاره ده؟
دارالمعلمین نه فارغه ده، خو لا بې دندې ده شاید نهږدې ورځو کې په نازو انا لیسه کې دنده واخلي.
واده یې کړی؟
نه د مړونه په نامه یوه هلک سره یې مینه وه، څنې جنجالونه یې په مینځ کې راغلل اوس سره وران دي خو یو بل ته ډېر زمن او وفادار دي، مړوند کمبخت ناروغ دی (سرطان) ناروغي لري
مړوند زما دیني ورور دی، ډېره ورته خواشینې یم نهږدې ورځو کې هندوستان ته روان دی.
ښه سمه ده پانکې
موټر ته خېژم ستړی یم، کوټې ته ځم بیا غږېږو پانې !
په سترګو لایقو د خدای په امان مینه درسره لرم...
زه هم جاااان مې
د پانې د اړیکې د پرې کولو سره سم چینار سره اړیکه کې شوم، د وصل کېدو سره مې ورزیاته کړه، چې سوډانه وړانګه خپله داسې عاشقه ده زلیخا به پرې وبښي.
چینار وخندل بس زه همداسې سپېره یم د مور ځویه.. کېسه کې مه اوسه خوار په هندوستان هم خوار وي
دستي د الله په امان... ښه وخت ښې چارې
د ورځې په تېرېدو د پنځه نی ورځ راغله، پانې په بې صبری سره په پیغام کې لیکلي وو، لایقه نن به راځې له خیره؟
هو جان مې ! درې نیمې بجې یو وړه ازموینه اخلي او بیا پخیر در روانېږم، بس زه به دې انتظار کووم لایقو !

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور مې زنګ کړی و، چې پلار مې له کابله حرکت کړی دی کور ته راځي، مور دوی مې زما په هکله ورته ویلي، دا یې هم ورته زیاته کړې؛ دې بدبختو چې په پنځه نۍ یې سیمینار خلاصېږي
نو لایقه ته کوښښ وکړه چې ژر راورسېږې که پلار مې مخکې راورسېد نو بیا نشو لیدلی ستا په خدای قسم چې لایقه ژر ژر راشه!
سمه ده خوږې کوښښ کووم...
درې نیمې بجې له دفتره ووتم خو د خوشال خان له مېنې چې محمود خان تر پله رارسېدم تقریباً پینځه بجې وې، د پاڼې پیغام راغی لایق جي کوم ځای ته راورسېدې؟
زه خو لااااا کابل کې یم غټ سترګې میرمنې
افففف نو کابل دې خدای مه کړه ستا په سر موږ شي کابل او کابل...دا څنګه کابل شو؟
ښااااا امین کړې نو چې ته داسې ښې دعاوې راته کوې...ترخه مسکاء بس خوله بنده کا ډېرې خبرې مه کوه ته لا ریشخند هم وهې، چې له څه نه وېرېدم هغه راوشو پلار وران مخی مې نېږدې دی
زنګ یې راته وهلی و، زه نو ځم د الله په امان قسمت مې هر وخت داسې چارې کوي
سمه ده نو پخیر ورسېږې کوښښ کووم سبا ستاسې کلي ته درشم پاڼې
سمه ده... ښې چارې
د محمود خان په پله حیران ودرېدم ځان سره مې وویل خوند یې ونکړ؛ ګوتې مې ماتولې چې یو ځوان مې خواته راغې د جلال اباد چغې یې وهلې د ټوډي ډریور و لاس کې یې سګرټ نیولی و له سترګو یې تورې حلقې چاپېرې وې، په برګ دسمال یې سر تړلی و، د ګنو جیبونو

(c) ketabton.com: The Digital Library


والا واسکټ يې پر تن و !
مسلمان د يوه تن شپږ سوه افغانۍ غوښتې زه ورنږدې شوم ترې ومې
پوښتل استاده د موټر ټيپ دې جوړ دی؟.... هو د چا خبره (غرمبا ړي)
له ما ترخه مسکا وشوه ورزياته مې کړه، څنګه خوښه دې نه ده چې دوه
زره افغانۍ درکړم او حرکت وکړو؟ لنډه دا چې په يويشت سوه افغانۍ
مو هوکړه وکړه مخکې سېټ مې شاته څملوه استاد د چرسو سګرټ ته
اوروړته کړ د کرن خان دا سندره يې ولګوله:
څو چې درځم درځم دلبره
په ما به لاره کې ماښام وي
د ټيپ اواز مې ۹۸ ته پورته کړ او وغځېدم په همدې کې مې سترګې
ورغلې وې د موبايل په لړزه مې سترګې بېرته کړې دا وخت نو د تکر په
غږ دا سندره شروع وه:
خو چې ځانته مې لږ پام شو
نو زما د ژوند ماښام و
د مستۍ په ميکده کې
خالي شوی زما جام و
تليفون ته مې ځواب ورکړ، پاڼه وه احوال يې اخيست !
خو اړيکه پرې شوه دا وخت د زرداد له غونډه، سروبي ته راښکته شو
پانې بيا زنګ ووهه د جېګېدو سره يې د سلام ځواب په بلا راکړ ما
ويل ولې؟
لايقه ته نه پوهېږې چې بې له تا په ما څه تېرېږي څومره زنګونه مې
درووهل موبايل دې بند و، دا لاره ډېره خطرناکه ده وېره راسره وه ما
وې خدای مه کړه څه شوي نه وي.
قربااااان جان ! سروبي کې يم پخير، په لاره موبايل کار نه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د ماشومانو په انداز يې د پېښنو په شکل ژر ژر وويل: پخير پخير پخير...

د پخير بچيه دا څه وخت دی، ډریور ته ووايه چې لږ راچټک شي خدای مه که لاره کې خطر دی څه درونشي.

تا د سخي ارسلا خان ځوی خو ځانته موټر رانيولی دی لوچکه لا خو ! مال په سترګو، اريکه پرې کېږي..... تک اريکه پرې شوه رانبغ شوم اسويلی مې وکړ ساه مې واخيسته ځکه مې د لغمان دوه سرکې ته په رسېدو د کور د رسېدو خبر ورکړ چې پلار يې ډېر بد خويه انسان و او د دې اريکې ورسره غير زموږ له اريکې هم ترينګلې وې صرف دومره يې وويل شکر چې پخير راورسېدې.

تر څو چې ما اريکه او پيغام نه وي کړی ته يې مه کوه !

تا له کابله يو څه په تليفون وويل چې ستاسې کلي ته درځم ما ځکه ځواب درنکړ فکر مې ستا په نه راتلو ډېر خراب شو

کوښښ کووم چې زه سبا که خير و ښار ته درشم، ته مې جواب ته په اوسه

په سترګو پانې ! ترا خر حده کوښښ وکړه.

سمه ده لايقو اوس دې په خدای سپارم

شپه شوه...تېره شوه کټ کې اووښتم را اوښتم د سهار اذانونه وشول ټوله شپه مې پلانونه جوړول څنګه به کيږي سودا مې وه پانه به څه ډول وي... که ته يې خوښ نه شوې نو بيا ؟

د نيکه به غږ د خيال له ټاله راولويدم ګورم چې مور مې د برنډې څنډه کې په قرآن ورغوړيدلې پاتې وه

را پامې څوله تر ډيره رڼا خپره وه.

زنګ راغی لايقو بله چاره مې نه درلوده زه د معدې تکليف لرم مور ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې وویل سبا ډاکټر ته ځم د شپې مې د هر تمثیلي فریادونه وکړل نو کار وشو شیبه وروسته در روانېږم خو شاید وړوکی ورور هم راسره وي.

وي دې ته دې پخیر راشې دا دی ما د دوه سرکې پر لور حرکت وکړ

ای لایقه زه لا تراوسه کور کې یم حرکت مې نه دی کړی تقریباً دوه ساعته لاره هم ده اوس به نو څه وکړې؟

نه نه زه و لاړم ته راځه بې صبرۍ سرحد مات کړی !

سمه ده لایقه

زه دوه سرکې ته ورسېدم پانې

سمه ده جان زه هم موټر کې یم... سمه ده

کیڼ لور دوکان ته د پزې د ماسک اخیستو په پار لاړم، لا مې پاتې پیسې نه وې اخیستې چې یوه دنګه ځواني له موټره راښکته شوه.

ماشوم یې له لاسه نیولی و اخوا دیخوا یې وارخطا وارخطا لیده، ما شمېره اوکې کړه تلیفون یې غوږ ته وړاندې کړ.

هیلو !!! زه راورسېدمه

ما په وارخطایۍ سره وویل وه مې لیدې، وه مې لیدې ورنېږدې شوم په اشارو مو روغبړ وکړ ریکشې ته پورته شو. وروسته مې فکر شو چې ریکشوان ته مې پته نه ده ورکړې. په خندا مې ریکشوان ته وویل چې ماما ګله ته مو د چرته وړې؟

ریکشوان موسک شو ځوانه زه هم نه یم خبر څو ځل مې وپتییله چې درڅخه وپوښتم، خو چې په هېنداره کې به مې دروکتل نو تاسو یو بل ته سترګې په سترګو کې اچولي وې ما ته مو خپله ځواني را په یاد کړه زړه مې ونه کړ چې درته مزاحمت وکړم...هههههه ماما ګله دا مې نامزاده ده ملنګ جان واټ سره یو ډاکټر دی رسول صحت نومېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

له مسکاله تر دې حاله ! / ۵۰

هغې ته روان یو...

سمه ده

دې کې د اباسین زنګ راغی، اباسین مې د ماشومتوب اندیوال او د ماما ځوی دی، په ژړغوني غږ یې وویل عاجل عامې روغتیا روغتون ته ځان راورسوه د سراچې په پل مو موټر ټکر کړی مور، نیا او ورونه ټول په وینو رنګ یو

پښې مې ولړزېدې پانې راته وویل ولې څه شوي؟

هېڅ خبره نشته پانې، کاکا ته مې زنګ ووهه او له پېښې مې خبر کړ، زیاته مې کړه، کاکا تاسې ولاړ شئ زه درپسې یم ملنګ جان واټ کې له رېکشې ښکته شو د ډاکټر په لور ولاړو په زینو ځمکتل ته کیوتو نوم لیکونکي وویل غرمه ده دلته تم شئ اول نوم به دا دی ستاسې ولیکم چې ډاکټر صیب لمونځ او ډوډۍ تمام کړي غږ درته کووم بیرون اوږده لرګینه چوکۍ پرته وه پرې کیناستو ما پانې ته وخندل او زیاته مې کړه پښې دې ځمکې ته رسي؟ هغه برګه شوه ولې تا ته څنګه ښکارم دا وګوره...

زه پاڅېدم بهر راووتم یو درجن کیلې مې راواخیستې یوه مې سپینه کړه ځراغ ته مې ورکړه او بله مې پانې ته ورکړه. پانې د یوې کېلې پوست ځلور پارې کړ اول یې له شنې څادرۍ لاندې خپله ترې د شونډو په سر چک ووهه او بیا یې ماته راکړه نوم لیکونکي غږ وکړ... ډاکټر ته دننه شو پانه ډاکټر ته نېږدې د ناروغانو په چوکۍ او زه ډاکټر ته مخامخ کیناستم

ډاکټر د تکلیف په هکله وپوښتل زه ورمخکې شوم ډاکټر صیب معده یې خرابه ده، په جنګونو یې د مور رنګ را زیړ کړ ورونه مې رټي او ما خو بیخي کور ور پرېښی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پانې مې په ورانه نوکاره ولګوله چې غلی شه ما بیا ورزیاته کړه
ډاکټر صیب دوه متره ژبه ورسره ده بل کار یې نشته جنګ او جنګ..
ډاکټر موسک شو بس نن سبا د ټولو حال یو دی ههه ته شکر وباسه د
درملو پرچه یې راکړه درمل مې راواخېسته، بېرته ډاکټر ته راغلم مال
ډاکټر صیب دې سره به یې جنګونه کم شي.
ډاکټر وخندل هو بلکل خو که ته یې دا اند ښنني کم کړې
د مخابراتو په لور مو حرکت وکړ شبستان ائیسکریم خانې ته دننه شو ،
زه او ځراغ یو خوا ، او پانه راته مخامخ کیناسته هوټلي ماما د ټکر دا
ټېپ ولګولې
چې دوه مئین چېرته ولاړ وي
په نورو خلکو د ړندو ګمان کوینه
جوس راغی ما له خپل ګیلاس نه دوه غړپه وکړه، بیا مې له پانې سره
بدل کړ پانې په دې خاطر چې مخ یې ښکاره نشي.
کړه چې زه یې نه ځنبم زه د هغې څنګ ته ورغلم او جوس مې ورته
ونیوو ، ورو ورو یې له مخه پړونی لرې کړ. غټې سترګې سپن مخ نرۍ
وریځې شرابي شونډې دنګه ځواني سره د دومره ښکلاګانو یې ځېرې
خاکساري او معصومیت بیانوه.
جوس نه یې د شونډو په سرونو داسې څکه وکړه چې شونډې یې لا هم
پوره نه وې لمدې شوې، زه غصه شوم او ګیلاس مې ورته په خوله ور
چپه کړ تورې جامې یې لارې لارې شوې.. موسیقي،شباب او کباب
پراته وو.
د پانې له غاړې مې لاس چاپېر کړ، او په شونډو مې ورته سم غوبل
وکړ کوچنی ورور یې غصه شو او بیرون ووته هغې خپله خوله په تور
پړوني پاکه کړه لاس یې په مېز او تندی یې په لاس ولګوه، ما یې لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لاس کې ونیوه. کله یې چې مخ راپورته کړ نو له اوږدو بڼو له جملې یې څو دانې په وریځو کې بند پاتې وو سترګې یې په ژړا سرې اوښتې وې، زه ډېر خفه شوم او په ځان مې لعنت وویل له هوټله راووتو.

د دوه سرکې په لوري روان شو، دوه سرکې کې سخته لاره بندي وه او ګرمۍ له کانو اوبه ویستلې د څادري لاندې مې د پانې تر ملا لاس چاپېر کړ پانه لکه پانه رپېده، وجود یې داسې خولې و تا به ویل چې دوه سطله اوبه دې پرې اچولې دي

ریکشې نه د ښکته کېدو په مهال د پانې لاس زما بغل سره ولګېد هغه مې په موټر کې کینوله او زه د عامې روغتیا په لور روان شوم.

د عامې روغتیا څلور لارې کې ریکشه وان ته مې پیسې ورکولې، ګورم چې په جېب کې مې د افغانۍ پینځه زرګونان په لیک کې تاو کړي ایښي وو.

په لیک کې لیکل شوي وو( لایقه که بیا داسې کوې شاید دا زما لومړی او وروستی ځل راتګ وي له تاسر پاکه مینه لرم نه د عزت سودا، زما عزت ستا امانت دی او نه غواړم له واده وړاندې یې خیانت کړم)

زنګ مې وکړ خو اړیکه یې ځواب نکړه، پیغام یې وکړ لایقه زه نېږدې یمه کور ته تا به بل فکر کړی وي، خو زه دې ته ډېر خفه شوم چې تا ته پینځه شپږ تېپیان پراته او ته له ماسره بوخت وې.

ښه ونشو باید زه هم هماغه شېبه بېرته ستنه شوی وی، او بل دا چې زما وجود ستا په واک کې دی خو ته خپله فکر وکړه چې سبا زما او ستا واده وشي زه به تاسره څنګه سترګې مخ کووم نور چې سره ووینو غلی به ناست یې که نه بیا درسره نه ګورم او له خدایه شکرګزاره یمه کوم ډول انسان چې مې غوښت ته له هغو ټولو خاصیتونو او نعمتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخمن یې نن په جار او ښکاره اعلان کووم، چې لایقه مینه درسره لرم پیسې مې د دې لپاره پټې درته جیب کې کېښودې، چې ناروغانو ته پرې څه واخلې، زما روغتون کې ډېرې ملګرې دې زنګ ورو هم دربشي.

مننه کووم پاڼې بې تا دې نشم، خو څوک مه رالېږه زه هم دوستان لرم دغور ځنګ ورور دلته غټ سړی دی، ستونزه به نه وي ان شاالله..

ښاااا سمه ده ته ناروغان سمبال کړه که اړتیا وه ما ته ووایه پیسې، وینه هر څه به در ورسېږي.

سمه ده جان مې مننه ..ښې شپې !

ماښام پاڼې پیغام وکړ، سلام لایقه ناروغان څنګه دي؟

شکررر دی ښه دي، خو د چا پښې او د چا لاسونه مات دي، بد حال دی.

څه ښه دی چې خدای له مرګه ساتلي دي.

که څه هم لازم وخت نه دی خو یوه پوښتنه کولی شم لایقه؟

مهرباني

زه دې خوښه شوم که نه درواغ به نه وایې؟

ما د دې لپاره چې د بیا لیدو لپاره بهانه جوړه شي، وه ویل ولا که رښتیا ووایم پاڼې د دې زنګ سره مې دومره طبیعت خراب شو چې هېڅ مې سمه ونه لیدې او بل تا د تبلیغي لور مخ کلک پټ کړی و.

نور څه کوې د غوا څوېه ؛ ستا له لاسه مې شونډې مورې مورې دي، له درده یې مړه کړم

پاڼې باور وکړه چې څهره دې رانه هېره ده، مړه بیا به مې ووینې پاڼه خو ستا په نوم ده لایقه

سمه ده نو سبا درځم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چېرته؟
ستاسې کلي ته، نه نه نه اوس مه راځه زه بیا درته وایم یو دا چې دلته دناستې ځای نشته بل مې پلار په کور دی او ته هم ناروغان لرې مناسبه نه ده.
کېنه د غوا لورې زه درځم... وایم مه راځه کنه!
سمه ده موبایل مې بند کړ.
سهار وختي دوه سرکې ته ولاړم ځمکتل ته بښکته شوم
یو مې سپین وړوکی میخه کی، ګوتمه، امېل او د لام توری واخیست موټر ته پورته شوم. چې له غلي اباد تېر شوم موبایل مې خلاص کړ د پانې ګڼ پیغامونه راغلي وو.
لا ډریور به بل ګېر نه و ورکړی چې د پانې زنګ راغی ما پرې کړ، پیغام مې ورته وکړ او ورته مې کړه چې وایه هغې خندا او بیا یې وویل په څه غصه یې لایقو ما خو تاته کومه ورانه خبره نه ده کړې؟
ما ځواب ورکړ په هېڅ!
ښه اوس راته ووایه (زما ښائیسته میرمنې) نه یې وایم شابه نو هله..
نه یې وایم
ووایه ستا خو لا مور...
سمه ده اوس موټر کې یم بیا یې درته وایم
چېرته ځې؟
په لار کې یم او تورغره ته روان یم
افففف راغلي تا ته ما ونه ویل چې اوس مه راځه
زما خپله خوښه ده څه تا ته نه یم راغلی، نو بیا خو به دې ماته ویلي وو چې ما تیاری نیولی وی.
زه د چا تیاریو ته اړتیا نلرم، سمه ده بازار کې به انتظار شې زه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګاونډیو په پلمه دروځم ناسته نه کېږي جومات ته مخامخ ودرېږه چې
زه دې ولیدم ما پسې راځه سمه ده اوس راورسېدې که نه؟
هو زه هم همدا اوس راورسېدم ښاااا دا دی زه هم درووتم
چېرته یې؟
د کلي د جومات سره ښاا! په مخامخ کوڅې رادننه شه
وه مې لیدې پانې
ښاااا ما پسې راځه
سمه ده اړیکه مه پرې کوه غوږې غوږ کې کېږده چې څوک شکي نشي.
سمه ده ګرانې دا لوړ قد همدا تاسره خوند کوي، څومره ښه ښکارې
ډېرې خبرې مه کوه، زه چې په دې موړ کې تاوه شوم ته قرار شه اول شنه
دروازه راځي زموږ کور دی د اوبو په څاه ځان مصروف که زه راوځم بیا
په دروازې ته راشې.
سمه ده خوږې
کور ته دننه شوم دا څادري حجره کې ورګوزاره کړم ته هم حرکت وکړه
دروازې ته ورغلم
جیګري پنجابي جامې یې پر تن وې زیږ پرتوګ او زیږ ټیکري هملته
ووژلم، له ځانه سره راوړي څېزونه مې په دروازه کې ورکړل هغې په
خپلو ګوتو جوړ کړی د سمال راکړ.
لاس یې چې زما له لاسه بیلاوه په خوله یې لاس کېښود او په مخ یې
غبرګې اوښکې راغلې زه ترې روان شوم په تېوله لاره مې د کرن خان دا
سندره واورېده
ډېر په حیرانۍ اسمان ته وګورم
زه چې خپل ښائیسته جانان ته وګورم
موی مبارک ته په رارسېدو ډریور دا سندره ولګوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

له مسکاله تر دې حاله ! / ۵۲
تا ته څه پته ده چې څنګه زنده ګي مې وکړه
مینه مې څه وکړه خو خپله تباهي مې وکړه
ما هم د پاڼې د لاس دسمال په مخ واچوه او ښه ډېر مې ورته وژړل،
پاڼې په تولهلار پیغامونه رالیګل خو ما ځواب نه ورکوه دوه سرکه کې
له موټره ښکته شوم حې د پاڼې پیغام راغی.
لایق جانه ورسېدې؟
زه غلی وم هغې بیا کړه
(ای لایقه قسم دی تر هغې به ډوډی ونه خورم چې تا نه وي خوړلي.)
ما چې کله دا پیغام ولیده نو ځواب مې ورکړ ګرانې ته ډوډی وخوره ما
خوړلې نه داسې یې نه منم لایقه ته ډوډی ته کینه زه درته زنګ کوم تر
څو پوهه شم چې ته ډوډی خورې
ښاااا سمه ده
هوټل ته تاو شوم د مازیګر څلور بجې وې هوټلي ماما هر څه خلاص
کړي وو. خوا ته یې تودې پیکوړې پخیدلې ورغلم او د پنځوسو
افغانیو مې واخیستې هغې بیا پیغام وکړ او ویل یې څه دې وکړل؟
ما ویل اوس کینم زنګ یې ووهه شابه ته غټ غټ کپونه ووهه، چې زه
پوهه شم ما هم دوه او درې پیکوړې یو ځل په خوله کولې چې کله یې
باور وشو نو اړیکه یې پرې کړه.
لومړی کور او بیا روغتون ته ولاړم، د پاڼې پیغامونه ځوابول مې
رسمي دنده شوه سهار شو .... اونۍ تېرې شوې
اړیکه ورځ تر بلې ټینګېدله زړونو پیوند اخیست یو ورځ پاڼې پوښتنه
وکړه، لایقه د ښځنوو لپاره دې کوم رنګ جامې خوښېږي ما ځواب
ورکړ سرې او تورې
بله ورځ یې اړیکه ونیوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



لایقو تول کالي مې وسوځول یواځې سره او تور مې پرېښي دي او همدا اوس مې څلور جوړې وکړې، درې هغه یې تورې او یوه سره او ها رښتیا یوه جوړه مې تېره ورځ کړې وه سور کمیس تور پرتوګ او تور ټیکری.

د غوا لوري ولې دې سپځل؟ چاته به دې ورکړي وو

نه نه لایقه زما د لایق چې څه نه خوښېږي هغه زه د دنیا پرمغ نه پرېږدم.

سمه ده د نواب لوري؟!

پلار مې دې خدای واخلي هغه مه یادوه شکر دی خپله دوه ځایه دندې لرم یوه یې معلمي او بله هغه یې ډاکتري... تقریباً ټول تال پینځه شپیته زره افغانۍ جوړېږي.

انس دولس زره خو پکې زه هم حق لرم، چې د خپل خاوند لایقو غوښتنې پرځای کړم.

پدې خلکو هسې هم نه معلومېږي، سمه ده نو خبر یې درې معاشونه مې حواله شوي دي د نۍ په ورځ پیسو پسې درځم کور کې پیسو ته اړتیا ده. ستا چې څومره پکارې وي راته ووایه هېڅ ستونزه نشته، لایقه ستا خپلې پیسې دي تېره ورځ دې یادونه وکړه بیا له ما هم هېر شو مور دې ناروغه وه اوس څنګه ده؟

هو پاڼې مور مې ناروغي لري ډېرې پیسې مې پرې مصرف کړې، تور زیړي یې جیګر وهلی دی.

دا څه وایې لایقه خفه دې کړمه پیسې دې سر و خوري څومره چې پرې مصرفېږي زه یې درکووم خو د مور درملنه باید چې وشي.

منندوی پوهېږم د پیسو ستونزه نشته مور دې الله ج صحتمنده کړي زه د خپل ځان قرباني ته هم د مور لپاره چمتو یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لایقه زه د مور د روغ صحت لپاره چمتو یم چې درې روژې ونیسم او
قران شریف ختم به وکړم.
مننه ګرانې خدای دې تا راته ژوندی او اباده لري بس ستا هم مور د
هو بلکل لایقه زما او ستا میندې نو چا بیلې کړي دي او بل پاتی تو
ژوند به مې ستا له مورکۍ سره وي
بلکل پانې ! دم ګړۍ بنې چاری !
تا ته هم ګلابه
سلام نن د نۍ ورځ ده، زه درځم ښار ته چې کوم خوا لاړ نشې زه د
روانه یمه ډېر اړین کار درسره لرمه لایقه
پخیر راشې او زه به درته دوه سرکه کې ولاړ یم
دوه سړکې ته مه راځه په ښار کې زمونږ دکلي د موټرو په تم ځای کې
تم شه سمه ده له سره رود ولسوالۍ دروا وختم
زه په تم ځای کې په تمه یم
موټر نه ښکته شوم او پښتون هم راسره دی، وه مې لیدې پاڼکې !
دا د ګنو شربت ربړې خواته راشه دا شربت به وڅښو بیا به ځو لایقه
سمه ده دا ده درغلم
له سترې مه شې وروسته پانې له ګرمۍ شکایت کولو په تاسې دا څه
حال دی زما خو زړه وچاودېد، بس څه وکړو پانې د ښار ژوند ده.
لایقه زه وایم لومړی به بانک ته ولاړ شو بیا به چېرته مرکه وکړو.
له دې نو ښې خبرې نشته درځه چې ځو د غوا لورې
له بانک څخه مو پیسې واخیستې راووتو، دا چې کله پښتون نه دی
راغلی دې ته به چکر ورکړو چې خفه نه شي که څنګه ؟
سمه ده ګلې !
خو دا باید هېره نه کړو چې زه ببرته ژر ځم، چې سپین غر لالا ډېر بد

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګمانه انسان دی.

سمه ده راځه په طرف د کامې مو واچول، بهسودو په پله ډېره لار بندي وه ځکه په دوهم پل کار روان و.

زړونو دا چې کامه د ننګرهار شنه او کرنیزه ولسوالۍ ده، فطرت ورته بلا ښکلا وربښلې ده. کامې ته د رسېدو په پار اړ یو چې د بهسودو ولسوالۍ څخه تېر شو.

بهسود هم په خپله غېږ کې ډېر ویاړونه روزلي دي، د بهسودو نوم په اورېدو؛ په ځانګړي ډول د څوانیمرګ او د لوی افغانستان ارمانجن شهید ملنګ جان بابا مبارزه ژوند او شاعري د سړي سترګو ته ودرېږي.

د ملنګ جان بابا د زیارت لوحې په لېدو مو هرڅه له لاسه ورکړل ځکه ملنګ جان بابا د پښتون قام ستر ویاړ و. او مړینه یې زموږ لپاره ستره او نه جبرانېدونکې ضایع وه.

عجیبه لا دا وه چې د بهسودو دا ښکلې ولسوالي، د سرک دواړه غاړو خونو ته شین والی، جانان شتون او په موټر کې د ملنګ جان بابا دا کلام اورېدل

څه ملا وتړه ماته د باغ ګلونه راوړه
زري شالونه د ازادۍ
سندرغاړي ورته د خپل غږ خواږه ورکړي وو

مونږ هم د بهسودو ولسوالۍ لار د بابا مبارزې؛ شاعرۍ او دردونو په اړه په خبرو او بحث باندې طی کړه.

کامې پل ته په رسېدو د کنړ سرشار؛ مست او لوی سیند اواز مو پام ځان ته رواړوو. کنړ سیند د افغانستان له یو پېژندل شوي او لویو سیندونو څخه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له مسکاله تر دې حاله ! /٦٠

دي سیند اوبو په لېدو مې د صاحب شاه صابر صیب دا بیتونه ذهن ته
راغلل

له مودو نه د سیندونو خوا کې اووسو
خو زمونږ فصلونه اوس هم په باران دي

زه رېښتوني چې څه وایم نو رښتیا شي
خلک وایي چې په دې سرې پیرېان دي

د یاد سیند هر څاڅکی اوبه زمونږ د ویني په بدل تمامېږي، څکه چې
مغرض ګاونډیان نه غواړي چې سولې ته ورسېږو او د سیندونو له
اوبو ګټه پورته کړو.
په همدې فکرونو کې ټاکلي ځای ته ورسېدو هوټل کې کیناستو،
کامه نو په دې وخت کې د شیریخ بیخي مشهوره ولسوالي وه.
ان له لرې ولایتونو خلک به د کامې چکر او شیریخ ته راتلل مونږ هم د
شیریخ وړاندیز وکړ، دا چې پاڼې ما ته خاص څه ویل پښتون مو د اوبو
په پلمه بهر ولېږه.
پاڼې بیل بیل راوکاته یوه شېبه غلې وه د سترګو ترمنځ خطرناکه جګړه
روانه شوه، چوپتیا ماتې وخوړه (مناسبه به نه وي خو اړینه یې بولم د
پینځه نی په ورځ مې پلار راځي له کابله یې ورسره دوستان هم راځي
او لنډه دا چې د زوی لپاره زما ریښته غواړي).
شاید پلار مې ورته انکار ونه کړي او زمونږ خوښې ته خو هسې نه هم
څوک نه ګوري
او دوهمه خبره دا ده چې ستا مور هم ناروغه ده خوشالي به ووینې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل به چانس او موقع هم له لاسه ورنکړو. ستا څنګه خوښه ده چې راجرګه شي او ما مې لايق ته وغواړې؟
.. زه فکري شوم له سره مې ګرم تپ پورته شو، هک پک يې کړم په دې خبرې سره خو بايد يو څه مې له خولې ويستلې وی ما ورته وويل: پاڼې دا خو ټولې دوه درې ورځې مينځ کې دي او ما خو کور کې يادونه هم نه ده کړې او بل دا چې زما کورنۍ له بده مرغه زما لپاره زما د ترور لور په خوله کې اړوي را اړوي
هغوی په پېښور کې مېشت دي زه بايد لومړی د کور دا جنجالونه حل کړم او قناعت ورته ورکړم.
افففف..زه نوره نه پوهېږم خو که پلار مې هغوې ته ورکړم ځان وژنه به وکړم او کېسه خلاصه، اوس ځو چې ناوخته کېږي بيا يې له خپله دسکوله ټولې پيسې راکړې او ويل يې چې شل زره افغانۍ ترې بيلې کړه.
په شل زره افغانيو څه کوې ته خو يې ترې بيلې کړه، هننن دا شل زره يې ستا او نورې به کور ته يوسم.
نه نه پاڼې دا څه کوې ته، زه يې نه اخلم زه ورته ضرورت نه لرم، زما خپل ښه کافي معاش دی په دې کار مې خفه کوې ګوره.
لايقه تا ته يې نه درکووم مورجانې ته پرې درمل واخله، پاڼه بيخي جدي وه خفه کيدله نو ما ورته وويل دا ډېرې دي لس زره مې ترې واخيستې او پاتې مې ورته وسپارلې، ښار ته راغلو له ښاره دوه سرکې ته لاړو دوه سرکه کې انتظار وو چې يوه سپينه سراچه راغله مخکې سيټ او ډيګۍ يې له نسوارو ډک و موږ په وروستي سيټ کې کيناستو.
او د تورغر په لور روان شو لاره کې مو ډول ډول کيسې سره وکړې ډير

(c) ketabton.com: The Digital Library



مو سره وخندل.

د ډریور دې هم کور ودان وي ځان یې ناګهانه کړی و په لاره مې د ډریور سره خوله شریکه کړه استاده په دې دومره نسوارو څه کوې؟

هغه وویل زما نوم خاکسار دی او د دې خاکسار کنړي نسوارو تولیدات زه کووم بس ګذاره مو پرې کېږي شکر شپږ ورونه یو هر یو بېل بېل کورونه او موټرې لرو.

ډېر ښه.. بېرته ښار ته ځې؟

هو دې دوکاندارانو ته مال ښکته کووم بیا ځم، سمه ده نو دې جومات سره ودریږه دوی به ښکته کړو او موږ به ځو، زه هم بېرته ښار ته ځم سمه ده

پانه مو ښکته کړه موږ د نسوارو له ویشلو وروسته مخ په ښار شو د یوه شېبه مزله وروسته مې استاد سره ګپ جوړ شو استاد وویل یوه پوښتنه کولی شم، ولې نه سل خو وکړه

د واده دې څومره وخت کېږي؟

لا نه مې دی کړی، دا مې کوژدن ده باور دې وشه

خدای مو له بدو سترګو وساته جوړه مو برابره ده زما دې بل واده ته زړه وکړو.

څنګه...؟

هم فکره یاست، خنده رویه داسې ژوند نو ډېر ښه وي، هو استاده همداسې ده خو که رښتیا درته ووایم لا تر اوسه نه واده شته او نه کوژدن دا مې مینه ده.

دا څه وایې؟

هو باور وکړه

بس الله مو په برخه که وروره !

(c) ketabton.com: The Digital Library



امین استاد ګله په خوله دې برکت شه، موږ د هرې جمعې ورځ ښار کې سره وینو بیا یې تر کور راولمه دا خپله ډاکتره ده د دنیا پر مخ چې د پر ارزښت ورته ورکوم دا ده، همداسې ماته هم ارزښت راکوي.
مئین صیب ! پوهیږم ماته پته ولګیده چې له تانه هغه تاته د پر ارزښت درکوي، زما پام و په موی مبارک کې یې چې سر ستا په اوږه کېښود آن تر کلي... خو ته یو کار وکړه داسې ستغ ستغ ځوابونه مه ورکوه انسان مایوسه کیږي.
نه نه استاده زموږ تر مینځ دا خبرې نشته، دا نازونه دي
سمه ده نو وروره !
استاده ته هره ورځ راځې؟
نه وروره اونۍ کې یوه ورځ کله چې دې اړتیا شوه زما موټر دې په خدمت کې دی دا شماره مې واخله.
مننه کووم استاده د بیا لیدو په هیله د تبلیغي مرکز له لارې سره بریک شه
سمه ده ښه وخت...
مننه استاد تا ته هم
له سرکه مې د کور په لور قدم وهل پیل کړل د لارې نیمایي به مې نه وه وهلې د پانې بل پیغام راغی...
(لایقو ګوره چې کور کې خبره یاده کړې زه په تمه یمه)
کومه خبره؟
سودایي کامې کې مې چې درته وویل، د مرکې خبره یادووم
ښاښا!! سمه ده... په همدې فکر وهلو مې قدم قرار کړ چې څنګه کله او چاته ووایم؟
تر دروازې راورسیدم کور ته د ننه شوم په کور کې د خاموشۍ څادر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښورو ، د ټولو سترګې له اوښکو ډکې وې د همدې امله ما هم ونه
پوښتل چې څه پېښ شوي دي.
د شیبه څنډ وروسته د حالاتو لوستلو څرګنده کړه چې مور مې بیا
سخته شوې او بستر ده، ویستلی کمیس مې په وارخطایۍ بېرته ژر ژر
په غاړه کړ. او په منډه منډه مې د روغتون لاره را لنډه کړه د عامې
روغتیا روغتون په دروازه ورننوتم.
آنتاني واټ ته په رسېدو مې ورور سلګو نیولی پښو ته وغورځېد او
په مات مات غږ به یې د مور د نوم درې توري یو ځای او بیا به ترې
مات مات شول، ورور مې سینې ته راجوخت کړ تسل مې ورکړ د
جومات د لورې مې ماما ګان راغلل .
یو ماما مې کوم ته چې مې مور ډېره ګرانه وه د قره ول د ډاګې سره ځان
په ځمکه ځمکه وهه ما ورمنډه کړه له ورایه یې چیغې کړې.
لایقه ! مور دې د پاتې نه ده، خور مې مري !
د خپلوانو په مینځ کې داسې راګېر شوم چې مور مې له یاده ووتله له
پورته نرس راغږ کړ، په تاسې کې لایق څوک دی؟
ما ویل زه یم هله پورته ژر ورشه مور دې تا غواړي، په منډه منډه وختم
ګورم چې د مور سترګې مې ولاړې وې، پزې ته یې د اکسیجن قطعې
لګېدلې وه زما په لیدو یې چپ وخکی مسکا ته جوړ که وروغوړېدم
دومره اوښکې مې توی کړې چې پاڼې به په طول د مینې کې نه وي توې
کړې.
ځکه دا د مور سپېځلې مینه وه په دواړو مخونو مې ښکل کړه یوه
شېبه یې په سینه وېر نیولی تم شوم بیا مې ځان ډاډه کړ په لمن مې
اوښکې پاکې کړې شاه مې ورواړوله، ځان مې د معایناتو په پاڼو
بوخت کړ تر څو مور مې په سترګو کې اوښکې ونه ویني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د مور د ناروغۍ په اورېدو مې بيا له سترګو اوښکو دارې وکړې خوله مې بې واکه ورانه لاړه. نو د پانې د لاس د رومال يوه څنډه مې په خوله کې ونيوله او په بله څنډه مې اوښکې پاکې کړې، شېبه وروسته مې د رومال په ليدو د پانې خبره را په زړه شوه پښې مې وښوېږدې چې لېونيه تا په کوم رومال اوښکې وچې کړې، ګنهکار شوې خو به نه يې؟

يو خوا د مور درد بل خوا د پانې د سر سودا روانه وه، احساس مې دېر خراب و، غورځنګ او چينار هم راورسېدل او دا يې هم راته وويل چې مېړنی او علي شباب هم راروان دي.

دې سره په خبرو وم چې د پانې بل پيغام راغی ليکلي يې وو (لايقه څه دې وکړل)؟

ځواب مې ورنکړ ما ويل شايد خفه شي ځکه زما وضيعت بيخي جوړ نه و، بې له ترخو خبرو او تندې لهجې مې بل څه نه لرل. موبايل مې بند کړ ورور ته مې ورکړ او زياته مې کړه ورته دا درواخله تر هغې چې زه له روغتون نه يم درغلی څوک حق نلري چې زما موبايل چالان کړي.

تقريباً دوه ورځې او دوه شپې شاوخوا په روغتون کې پاتې شوم شوګيرو مې څهره په بله کړه، دريمه ورځ پرېکړه دا وشوه چې ناروغ بايد کابل ته انتقال شي.

دا چې زه شوګير شوی وم ماما او کاکا مې ورسره لاړل مخکې له دې چې ارام وکړم موبايل مې روښانه کړ بې شماره پيغامونو مخه راوکړه...

(لايقه څنګه شو)؟

(څه دې وکړل)؟

(ځواب راکړه د خدای لپاره تا ته وايم کنه)؟

(تا ته وايم کنه افففف) ! بيا به ګيله نه کوې ګوره

(ای ! مردارخوره موبايل دې ولې بند کړ ما سره دې دوکه وکړه.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(خدای دې څواني لو کړه زه به اوس ملګرو ته څه وایم)؟

(که ژوند راسره نه جوړوې نو ښکاره راته وو ایه) !

(دا دی ما هم سیم کارت مات کړو چې سمه چاره دې وکړم، او زړګی دې یخ شي)

(همدا دې غوښته کنه لعنت په تا او ستا په دې مینې) !

دا او دې ته ورته پیغامونه لا راروان وو، په هر پیغام لیدو سره مې (ټکان) خوړ یو خوا د مور ناروغي بله خوا دا دردونکي پیغامونه نووو افففف !

-مخاطبه !

که لږه مینه دې هم کړې وي، نو په دې ځای کې زما ناچاري ښه درک کولی شې.

ما ورته زنګ وکړ تلیفون یې بند و، رښتیا هم کار یې نه کاوه دا نو د غصې اخیرې حد و. موبایل مې په دیوال وویشت دانه وانه یو خوا او بله خوا په ټغر ولوېده... په دې خونړیو او دردناکو افکارو کې مې همداسې سترګې ورغلې وې.

چې ټکان مې وخوړ، چت لړزېده،ښیښنو یو عجیب ډاروونکی اواز کاوه، د کورنۍ ټول غړي په حویلۍ کې راټول وو. پاینسې یې په وه سترګې مې ومولږلې په ما دومره دردونه وو چې قدم مې هم وانه خیست (هغه په مرګ چې د خوښۍ خبره کېږي) هغه نو بیا دا حالات وي.

دا هماغه خطرناکه زلزله وه چې د مالي تلفاتو تر څنګ یې ګڼ ځاني تلفات هم لرل، څمک پېژندونکو اعلان کړې و چې له ۷ رېکتره یې درجه پورته وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مات زړه په کټ کې په بله ډډه واوختم، ستوماني مې وويسته راپورته شوم بهر ووتم او د اصف ننګ نه مې موبايل واخيست.
حضرت جان شينواري هم ورسره ناست و خپل سيمکارتونه مې پکې واچول.
د څلورنۍ ورځ وه د کابل خلک رارسېدلي وو، له رارسېدو سره يې پلار د پانې کاکا ګان او ماما ګان راغوښتي وو خبره ياده شوې وه پانې مخالفت کړی و.
د مخالفت سره سمه د شنو لښتو لاندې راغلې وه وجود يې تغمې تغمې شوی و، مخ يې تک شين شوی د کابل خلکو چې دا حال ليدلی وهمداسې تللي وو ماته په يوې نااشنا شمارې پيغام راغی.
وروره ته لايق يې؟
هو ! امر وکړئ
هيله کووم، ته غوږ شه !
ته دا څه ډول انسان يې پانې ستا لپاره څه نه وکړل ؟ او تا په تولو کې دوکه وکړه.
وبښئ تاسې لو مړی ځان راوپېژنئ؟
هيلۍ يم د پانې نوې مرسته کونکې (همکاره) !
هاااا سمه ده په غږ اورېدو دې خوښ شوم اوس پانې سره خبرې کولی شم د پانې غږ اورېدو ته ډېر وارخطا يم
فکر نه کووم چې خبرې درسره وکړي
ولې؟
هغه نه په ژوندکې هم تا ونه ښبني ته راشه يو ځل يې وګوره چې په کوم حال ده...
نو ما څه کړي دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه دا هر څه زما پلار کړي دي؟ !

ما ورته په پیغام کې ټول مسایل او حقایق ورولیږل، خو څواب رانغی سبا مې بیا هغه شمارې سره اړیکه ونیوله.

هیلو ! څوک یاست؟

لایق یم

وایه کنه..

وبښئ پانه چېرته ده؟

هغه اوس په کتنځي کې ده ناروغان ورسره دي چې راغله اړیکه درسره کووم، تر یوولسو بجو په تمه پاتې شوم زنګ رانغی بیا مې اړیکه ونیوله داخل نو د موبایل د هو تو کمه پانې کېکاږله..

سبسسلام لایق جانه ښه یې؟

هو شکر دی مانه تېر پره خپل حال دې وایه جان مې ښه یې راته؟

هههه..هو څه به ووایم پرون راباندې دوهمه نړیواله جګړه تېره شوه، ټوله خوږېږم درد درد څریکه څریکه وای وای جو جو یم

دا ولې، دا ولې دا چا...؟

بس څه چې درته هیلۍ ویلي دي ټول ربښتیا دي، هغه د کابل خلک راغلي وو ما انکار وکړ پلار او ورور په شریکه راونیولم او ښه وهل یې راکړه.

هههه د غوا لورې دې حال ته دې وګوره او ریشخندي خبرو ته دې وګوره؟ !

ولا له هیلۍ پوښتنه وکړه له پرون راهیسې مې له چا سره دوه خبرې هم نه دي کړي

ستا په غږ اورېدو مې په شونډو خندا راغله، د غوا څویه ته یې څه کوې له مانه دې پرې د بوسو خوسۍ جوړه کړه مغ مې تک شین شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حااا خدای به خیر کړي زما په ستونزه خو پوهه شوې یې، پیغام مې درته کړی و ...بس بس زه څه ماشومه نه یمه ماته درواغ مه وایه زه دې نورې دا بهانې نه منم

افففف ته دا څه چتیات وایې پانې ! ښه وایم او بله دا چې په دې شماره نور زنګ مه وهه.

ولې؟ بیا درته وایم

سمه ده نو !

یوه نیمه یجه وه په یوه نابلده شمېرې زنګ راغی سلام لایقه پاڼه یم دا شمېره له ځانه سره ثبت کړه

سمه ده

ښااا اوس کور ته نېږدې یم بیا وروسته درسره اړیکه نیسم

په سترګو

د پانې اړیکه پرې شوه ګورم چې په هغې بلې شمارې زنګ راغی سلام لایق جانه څنګه ښه یې صحت دې ښه دی؟

مننه کورودان خپل حال دې وایه

مننه ښه یم

هیلۍ په پانې خیال کوه مړه هغه نه کېږي... ولې؟

بیا بل وخت یې په هکله درته وایم

خیر دی راته ووایه

اوس نه بل وخت بیا سره خبرې کوو

سمه ده نو مننه

هیله کووم لایق ته ډېر ښه انسان یې

مننه هیلۍ ته خپله ښه انجلۍ یې، نه مړه زه دومره نه یم لکه څومره چې ته یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له مسکاله تر دې حاله ! / ۷۰

هغه څنګه هیلۍ؟

ښکلی د خبرو انداز، خوږ اواز، اصولي انسان ښکارې باور وکړه لایقه دا ډول خلک مې ډېر خوښېږي او بیا پانه دې هم ډېره ستاینه کوي هر ورځ دې د صفاتو یو ختم راته کوي

زه ورته خاندم چې دا څه ډول انسان دی هغه وخاندي او ووایي ( په ګلانو کې یو ګل) د دې سره رانه غاړه چاپېره کړي، او زیاته کړي چې وه به یې ګورې واده او کوژدې ته خو به مې راځې.

لایقه څه بل ډول ده چې ستا اړیکه پرې شي نو دستي بل زنګ ورته راشي د غرني په نوم څوک دی ورسره خاندي ترې جارېږي او قربانېږي.

چپ چپ چې بله خبره ونکړې...

رښتیا وایم باور وکړه

تلیفون مې پرې قطعه کړ له پښو مې دم وخوت سر راباندې تاو شو کیناستم لا مې غوصه نه وه سړه شوې چې د پانې زنګ راغی.

لایقه سلام څنګه یې؟

ښه یم.. د غوا ځویه بیا څنګه غصه یې، غصه خو نه یم

ولې نه ماته ښکارې همدا اوس دې ورانه خوله نیولې

ښااا وایه...

نه یې وایم چې تر هغې دې دا تروشه تنده نه وي پراخه کړې.

نه یې وایم

سم شو، ژرکوه ووایه..

لایقه سبا درځم د عامې روغتیا روغتون ته هلته نفیسې سره هم وینم، او بل دا چې مړوند له هندوستانه راغلی یو ښه زیری دا چې معاینات یې هم پاک راغلي دي.

ما ترې تپل غوښتي وو هغه یې هم راوړي دي، او یو څه کریمونه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم راوړي دي، بس ډالۍ دي نازوي مو پرې..
دا څه وایې مړوند څه کاره دی چې تا ته کریم او تیل راوړي
ګوره لایقه هغه زما وروړ دی، ډېر پاک انسان دی سبا راشه وبه یې وینې!
زه د چا لیدو ته اوزګار نه یم نور دې د مړوند نوم له خولې وانه ورم پانې زه جدي یم ګوره که هغه یادوې بیا زما نوم وانخلې.
لایقه ته په خود یې دا څه څه وایې مغز مې مه خرابوه، زه کومه فاحشه نه یم چې ته ما پورې خلک راتړې مړوند زما وروړ دی، همدې خبرو کې اړیکه پرې شوه بیا نه هغې زنګ ووهه او نه یې ما شمېره ډایل کړه.
سبا وړانګې زنګ ووهه
سلام لالاجي ښه یې؟
شکر ښه یم
ګوره زه درنه خفه یم
ولې؟
تا پرون پانه خفه کړې ، او هغه هم د مړوند په سر ګوره لایقه مړوند زما مینه ده د مړوند پر سر خپله لیونۍ مینه مه زوروه او مه یې خفه کوه.
مړوند پانې ته له خپلې خور نه کم نه ګوري او رښتیا که مړوند خبر شي چې زه له تا سره خبرې کووم هغه به هم دا ستا فکر کوي ګوره لومړی د یوه کار په هکله ښه تولنیز فکر کوه او بیا یې ترسره کوه، ولې خپل ځان او جانان زوروې...
دې خبرو رښتیا هم زه ښه متوجې کړم مغزو کې مې کړنګ وشو د خپلې لېونی لېونی مینه مې یاده شوه خپل تور مې په یاد شو د هیلی درواغو ته مې فکر شو...
بس هسې د لېونو په ډول مې له خولې خندا ووته

(c) ketabton.com: The Digital Library



هههههه..وړانګې بي بي وبښه بيا به داسې نه کېږي خو اوس دې دا ملګرې راپخلا کړه

لايقه ډېره دې خفه کړې ده داسې نو څوک نه کوي دا ډول تورونه ډېر انسان زوروي، بيا زه سزا درکووم دا دې اخيري ځل شو چانس مانس نه منم بيا لپاره پام کوه.

هههه سمه ده توبه بيا به داسې نه کېږي مشرې !

هههه افرين شه دغسې لږ ځان نه سرې جوړ که، اړيکه پرې شوه لږ هيله من شوم په ځان مې لعنت اوويل

پاڼې ته مې کړه ورځ زنګونه ووهل ځواب يې نه راکوه د مور معاينات هم مثبت راونه ختل، بس په ډېرو فکرونو کې ډوب وم دا نو بل ډول وضيعت و..

ژوند د مينې نوم دی او د مينې د کليمې د ذکر سره د مور خوږه کليمه سترګو ته درېږي بيا چې سړی ځوان شي، دلته زړه نور کارونه پيل کړي دا کارونه يو څه بې واکه او بې اختياره هم وي اوس چې دا حالت شي.

او دې دواړو خوږو خلکو سره ته مخامخ شې مور ناروغه او جانان خفه، دلته نو خود د سړي خولې ته د پښتو فلمونو د اداکار جهانګير خان دا خبره راشي چې ( يوه ابۍ وه بل زيبۍ وه، نور نو څه دي او دا دواړه په نشت حساب شوي دي).

ځان مې ځانته مخاطب شو ورته وايي: راځه ځان ووژنه وکړه او لدې زاره چاودې خو به خلاص شې درملتون ته لاړم شل داني د ملريا ګولۍ مې واخيستې. لپه مې کړې د سيند د شګلنو اوبو له يوې لپې سره مې له ستونې تېرې کړې او ژر ژر مې يو پيغام وليکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه پاڼې

(غوښتل مې د ژوند وروستۍ خبرې مې له تاسره وشي، دې ارمان ته ورسېدم دا پیغام داسې حال کې لیکم چې زما او د مرګ تر مینځ ډېره لږه فاصله ده. زه دا هڅه کووم چې په زنکدن کې مې له خولې چېغه هم ونه وځي ځکه زما خبرې تاسره وشوې، هغه هم پیغامیزې ستا لایق له تا اجازه اخلي په ځان دې د یوه ناکام او مړ مئین لپاره خیال کوه. خیر دی کله کله مې یادوه مشرق خواته زموږ هدیره ده هماغه خوا ګوره زه به خوشالېږم او رښتیا تا ته مې یو جوړ ډېرې ښکلې سنډلې اخیستې د حجرې د الماری په شپږم روک کې مې ایښې دي هغه به له چینار او یا له غورځنګه وغواړې او رومال دې ماسره په جېب کې خوندي دی، نور دې په الله سپارم ښې چارې، پاڼې لېونۍ مینه درسره لرم...)

بیا نو په ځان نه یم پوه شوی.....

ورځې وتلې وې سترګې مې وغړېدې یو ډول بوی مې احساساوه، ګنګوسی و په زور مې سترګې خلاصې کړې رڼا مې په سترګو بده لګېده خو له خولې او پزې مې پایپونه تېر شوي وو.

کاکا مې سر ته ولاړ و په روغتون کې وم پښو ته مې نږدې د راز و نیاز یاران، مېړنی، علي او غورځنګ ولاړ وو هغوی هم خبرې نه کولې پرې وپوهېدم له غصې سره سره په ټوله کې خواشیني وو

زما لیکل شوی پیغام د پاڼې پر ځای وړانګې ته تللی و خو وړانګې ېېرته پاڼې ته لېږلی و. پاڼې له چینار سره اړیکه کړې وه چینار ما ته ډېر زنګونه وهلي وو، خو زما شمېره بنده وه.

زما کورنۍ پر چینار شکمنه شوې وه له نیکمرغه میړني، غورځنګ او علي شباب صحنې ته ځان رسولی و او وضیعت یې راسم کړی و.

ما په خجالت سره خپلې شکمنې کورنۍ ته کېسه وکړه، د څو ورځو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



بستره وروسته بار شوم خو له ما یوه ورځ وړاندې مور هم خارج شوې وه بس د کوټې یو سر کې مور ته کټ اچول شوی و او بل سر کې ماته...
د پانې وضیعت زما په دې حال سره ډېر خراب شوی و، له چیناره یې تازه معلومات هره شېبه اخیستل خو چینار زما کورنۍ ډېر خفه کړې و.
هغې به ورته زما په هکله معلومات ورکول ما خپل نمبر خلاص کړ، پیغامونه راسره شول پانه ډېره زوربدلې وه پانې سره مې په پیغامونو ډېرې خبرې وکړې.
د پیغامونو په بهیر کې د هیلۍ پیغام راغی سلام یې وکړ ویل یې چې ورک ورک یې ما ورته ځواب ورکړ چې لږ څه ناروغ شوی وم هغې مې روغتیا ته بلها دعاګانې وکړې د پانې پوښتنه یې را څخه وکړه زه غلی شوم هغې زیاته کړه.
که زما منې هسې ورسره وخت مه ضایع کوه شل یاران لري انیل، غزنی، مروند او یو بل کاموال هم دی
افففف دا څه افواهات وایې هیلۍ
قسم په رب ربښتیا وایم لایقه
ښاااا سمه ده زه اوس پیغامونه نه شم کولی بیا بل وخت خبرې کوو
بیا لیوني فکرونه پیل شول د هیلۍ خبرې مې زړه ته ولوېدې، څه موده مخکې پانه یو موټر ځارلې وه.
او د څه لپاره یې ځارلې وه؟
له انستیتوته یې ولې استعفا کړې وه؟
له ډریورانو ولې ډېر شکایت کوي ژر ژر قرارادادتي بدلوي؟
پلار او ورور سره ولې او په څه ورانه ده؟
د هیلۍ له خبرو سره مې چې دا پوښتنې اضافه شوې نو د پانې په هکله مې فکر بیخې بدل شو دا وخت نو د پانې په کولو کې نور ماته ستونزه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه وه پاتې څکه ګولیو خوړلو هر څه ښکاره کړي وو.
کورنۍ راسره وعده وکړه چې څو ورځې وروسته به په جرګه ورځي خو
زه مشکوک شوم، چې پانه به لومړی زما پوښتنې ځوابوي او بیا به د
جرګې خبرې کوو.
سبا پانې زنګ ووهه، لایقه ګرځېدای شې؟
ما ویل هو
ویل یې قسم دی ستا پوښتنې ته راځم او تا ګورم ډېر درپسې خفه شوې
یم
ما ورته وویل راځه پخیر راشې، خو مړوند هم راوغواړه هغه امانت به
دې ترې واخلې هغې ویل په عامه روغتون کې سره ګورو زه به نفیسې
سره هم ووینم. تېر ځل مې ورسره وعده هم کړې وه او لایقه که ته خفه
کېږې، نو مړوند نه غواړم.
ما ورته وویل را وېې غواړه نه خفه کېږم زړه کې مې وویل چې دا یو
اړیکه خو به دې روښانه شي نورو سره به بیا ګورو
سهار شو پانه دوه سرکې ته راورسېده زنګ یې راوکړ، چرته یې ما
ورته وویل زه خو لا تراوسه ویده وم.
شابه نو ژر کوه زه دا دی چکنورو ته نېږدې یم ټاکلي ځای ته راشه.
سمه ده؟
بېر سر سترې په خیرنو جامو کې له کوره ووتم، وضیعت مې ښه
نه و د جیب ټول سامان راځخه د کټ سر ته پاتې شوي وو. زما له
رسېدو پورې پانې ټول روغتون ګام په ګام کړې وه دلته نو پانه له پټو
کیمرو ځارل شوې وه له رسېدو سره یې وویل څومره ټولګیوال چې مې
درلودل هغه ټول مې ولیدل تا ولې ناوخته کړه لاس یې راته راکړ ما
ورته ویل مړوند چېرته دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل یې نېږدې دی را به شي
دعامې روغتیا روغتون عمومي دروازې ته مخامخ د مار چوک دی، ښائیسته چمن هم لري هلته سره کېناستو زه ترې راووتم د امرودر غټ جوس مې واخېست ګیلاسونه مې ترې ډک کړل چې د قروال له لورې پینځه شپږ عسکر او یو تور رنګه بې نوره څهره په شخصي لباس کې راغلل مخابره یې په لاس کې وه ماته یې غږ کړ دیخوا راشه ورغلم ما ورته وویل امر کوئ صیب ویل یې دا څوک ده.
زه غلی شوم ځکه ما له پانې سره مشوره نه وه کړې، که ورته ووایم کوژدنه یا مېرمن مې ده، پانه غلطه نشي.
خو کارتونه یې را څخه وغوښتل ما هم خپل د دفتر کارتونه ورته ورکړل پانه په کارت ورکولو منکره شوه نلرم کارت شخصي جامو کې کس ډېرې بې اصوله خبرې وکړې.
زه د دې لپاره غلی وم چې په روغتون کې ټول خلک راټول شوي وو او خبره د عزت وه هڅه مې کوله چې په څه چل له دې ځایه دواړه ووځو، زه یې بیا وروغوښتلم ځانته یې کړم اول یې بدې خبرې وکړې بیا یې نصیحت پیل کړ بیا یې ویل جیبونو کې دې څه دي؟
ما ورته وویل هېڅ هم نشته عسکر مې تالاشي واخېسته ، بیا یې رانه په خپل موبایل څو قطعې عکسونه واخېستل بیا یې رانه ویډیو وکړه بیا یې لویې دروازې ته لاربښوونه وکړه عسکر یې هم راپسې کړ
ما ورته ویل چې دا ښځه به څه کوي ویل یې بیرون انتظار شه موږ جنایي ترې یو څو پوښتنې کوو. در به شي له پانې یې هم د مخ عکسونه اخیستي وو له صحت عامې بهر دا بد انتظار کېده چې له دروازې خړ رنګه وېډز موټر راووت ګورم چې پانه یې هم پکې کېنولې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما هم چینار راغوښتی و له دې وېډز موټر سره ځنګ په ځنګ روان شوم پانه یې دوه سرکې ته ورسوله هلته یې د تور غره موټر کې کېنوله زه ورته تر هغې تم شوم چې د پانې موټر تورغره ته او د جنایي موټر بېرته ښار ته رارروان شو.

کور ته راغلم له اصف ننګ سره مې موضوع شریکه کړه، هغې په ملي امنیت کې له چا سره اړونده موضوع شریکه کړه.

د امنیت کس وغوښتلو موږ هم ولاړو له امر صیب سره مې ټوله موضوع شریکه کړه هغې د اړونده حوزې معاون راوغوښت سم پرې غصه و. ټول داستان مې ورته تېر کړه معاون ثبت کړ پانې هم ورسره زما په تلیفون ټولې خبرې شریکې کړې.

معاون بیلا حوزې ته نه وو رسېدلی چې پانې ما ته زنګ ووهه، لایقه هغه سپي زنګ کړی و وایي ماسره مینه وکړه که نه ټول عکسونه دې فیسبوکي خپروم.

تر هغې چې زه امر ته ووایم امر صیب وویل زه پوه شوم معاون یې بیا امنیت ته وغوښت او د ژر اجراتو امر یې ورکړ دوه ساعته وروسته معاون ما ته زنګ ووهه ویل یې په جنایانو کې مې هغه کس پیدا کړ جنایي نه بلکې د ملي پولیسو ظابط دی شمشاد نومېږي قسم او قران کوي چې زما موبایل کې عکسونه او وېډیو نشته ما یې موبایل هم وکوت خو څه مې ونه موندل

ما ورته وویل دروغ وایي.

معاون صیب وویل ښه ده څارنوالۍ ته به یې ور وپیژنو ما ورته وویل بیخي روغه خبره ده.

چې مې له پانې سره مشوره وکړه هغې وویل چې دا منډې تررړې مې له لاسه نه کېږي څه په بلا یې وهې پرېږده یې ما هم معاون صیب سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې وکړې او ورته مې وویل څه پرېږده يې معاون صيب.
معاون صيب لومړی زما ستاينه وکړه او بيا يې په شمشاد زما او له پاڼې ښينه وغوښته او قضيه همداسې پاتې شوه.
پاڼې زنګ راوکړ ويل يې لايقه هغه بې شرمه خو دومره سوال زارۍ کولې زړه مې پرې وخوږېد زه پرې قار شوم چې د غوا لورې بيا دا خبرې ماته ونکړې،
لايقه کاش دا مسله رښتيا شوی وی، ولې؟
څکه همداسې خو مې نه کوې پرې چې در تاوان شوی وای زما يې له نورو شرمونو سره څه زه مې خپل لايق غواړم او بس...
هههه ياره پاڼکۍ نو هر وخت ستا طبيعت جوړ وي ګپ به لګوې او بيو لالې غږوې د غوا لورې لا خو !
ای ! ته يې ببولالې ګڼې خو همدا زما د زړه خبرې دي ته باور وکړه هيڅ مې له جنايانو وېره نه کېده څکه زما دنيا زما تر خوا وه هغه يوه لنډۍ ده وايي:
د شپې خو ټول خلک ويده وي
د ورځې راشه چې تاوان درباندې شمه
پاڼې بس دا کېسې دې ماته تکراري دي زه درنه يوه پوښتنه کووم او ځواب يې سم دلاسه غواړم که نه بيا به دې کېسه خرابه وي
انيل او غرنی دې څه دي...؟
کوم انيل او کوم غرنی؟
هغه غرنی او انيل ريکشوان درښايم، لنډ او پاک ځواب غواړم، لايقه دا درته چا وويل؟
ته څوک څه کوې ماته ژر ځواب راکړه
افففففف... ماته کس وښايه اول شابه نو..

(c) ketabton.com: The Digital Library



لايقه دا د موبايل کيسې نه دي سبا کلي ته راشه تو له کېسه به درته وکړم که زما په خوله باور نه کوې بيا به مې له مور سره هم خبرې وکړې سمه ده نو.

ما هم ورسره ومنله ؛ شپه تېره شوه سهار د پانې پېغام راغې
سلام سهار پخير لايقو
منه کوروډان
چېرته يې؟
احمدزيو ستاپ سره يم
چې له ولسوالۍ راواوښتې زه هم له کوره راوځم د شېدو دوکان شاته راځه بيا پخير

پانه نو د دوکان شاته د ښځو لپاره جوړ شوي ځای کې ناسته وه زه هم ورغلم دوکاندار مې وپوهوه کيناستم شېدې مې راوغوښتې پانې يې له څښلو انکار وکړ
زه پرې غصه شوم کېنه د غوا لورې...
پانې دا لاس دې ولې؟
هسې...
هسې نو دا کنول پکې څه کوي؟
پانې ويل ته لړ رانېږدې شه چې ورورانډې شوم جوش تبې نيولې وه اوحوحوحو... دا څه کوي د غوا لورې دومره چې ناروغه وې نه به راتلې راغلم خو ځکه ما ويل بيا به وايې چې بهانه کوې سيرم مې له لاسه لرې کړاو راووتم
ښه ډاکتر ته تللې وې
هو ويل يې چې ملاريا لرې
شفا دې وي ګرانې خو ډېره جوش تبه دې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

له مسکاله تر دې حاله ! ۸۰/

دا شپیدې وخښه کنه

نه یې څښم لایقه که رښتیا ووایم روژه مې ده، دا څه لیونۍ خبرې کوې ناروغه هم یې او روژه هم..

او تر هغې نه څه خورم نه څښم چې تر څو مې زړه کې نیولی سوال رب قبول نه کړي

سمه ده پانګې زه درنه ځم سبا شاید کابل ته هم لاړ شم تړینینګ لرو اجازه راکړه ګرانې !

لایق جانه یو څو شیبې راسره کښېنه چې دا زړه مې درباندې ارام شي، پانې ته ناروغه یې لاړه شه کور ته او ارام وکړه.

جان مې زما ارام یوازې او یوازې ستا په لیدو کې دی چې تا سره یم نو ډېره خوښه یم.

پوهیدم چې پانه په سخت حالت کې ده زما د خوښېدلو لپاره به یې په سترګو ډول ډول لوبې کولې، کله به یې وګډولې کله به یې زما په سترګو کې واچولې،زما لاس به یې په خپلو لاسونو کې کلک نیولی و. عجیب کیفیات وو په شونډو یې ترخه مسکا وځغلیده او له سترګو یې له ناچارۍ اوښکې راغلې دا وخت نو له ماسره هم هیڅ نه و ګونګ وم یوازې مې په خپلو شونډو د پانې په اننګو د اوښکو جوړ شوې لارې ورانې کړې.

اجازه مې ترې واخیسته هغه کور ته لاړه او زه د ښار په لور روان شوم، پیغام یې وکړ لایقه پوهېږم چې څه لپاره راغلی وې ما کې هیڅ دم نه و او تا هم زما په حالاتو لیدو پوښتنه ونکړه. او نه دې موضوع یاده کړه خو ځه ته چې له کابل راستنیږې ما به خپل د ژوند ټوله کیسه له ماشومتوبه تر اوسه لیکلې وي او په لیکلي ډول به یې دروسپارم.

سمه ده پانې ګلې تا دې الله ج روغه کړي دا خو به ښه کار وشي، هو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لایقه داسې کیسې به واورې چې تا به یې فکر هم نه وي کړی.
سمه ده خوږې زه په تمه یم
سهار هیلۍ زنګ ووهه
چېرته یې لایقه؟
ما ورته وویل کابل ته روان یم
ته لږ تم شه زه ښار ته درځم او یو څه درته په ثبوت رسووم بیا حیران شوم.
ښاا! راځه هیلۍ ته پخیر راشه ستا تر راتګه په تمه یم
هیلۍ راغله تالاشۍ چوک کې یو هوټل ته پورته شو هیلۍ نوغتې شنې سترګې وړه خوله غنم رنګه قواره او مناسب قد درلوده. دا نو ډېره چالاکه پېغله وه باجرآته خبرې یې کولې، نا څاپه یې سینې ته جوخت کړم زه وارخطا شوم هغه کارونه چې باید ز ما له لوري شوي وی دې کافرې (بچه بازې) ترسره کړه.
لنډه دا چې له شونډو مې وینې لاړې زه دې جرآت ته هک پک وم لکه زه چې جلۍ او دا هلک وي..
بیا یې نو غرني ته زنګ وکړ
وروره سلام
سلام سلام سلام هیلۍ ښه یې؟
شکرر دی ښه یم څنګه ده له پانې خبرېږې
هو ښه ده ان شا الله په دې څو ورځو کې به یې کوژده هم کړم دا به یې بیا خوند وګوري
ښاا! سمه ده دلته یو هلک دی وایي تاسره واده کوم واده ورسره وکړم که نه؟
ته ورته موبایل ورکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

له مسکاله تر دې حاله ! ۸۲/

سلام علیکم وروره
علیکم سلام
وروره جوړ یې؟
زما له خور سره واده کوې خو ته څوک یې او له کوم ځای څخه یې؟
دا به درته بیا هیلۍ ووایي موبایل مې په غصې سره پرې کړ، د غرني خبرو مې بلکل په پانې باور له لاسه ورکړ پورته شوم له هیلۍ مې اجازه اخیستله
کېنه مره لاړ به شې موږ خو مره ستا ارمان کړی دی ته کېنه یو شېبه خو زه جدي وم
هغه هم راپورته شوه ویل یې ته صبر دا پیزار را په پښو کړم، له خپله بیکه یې باډي سپری راواخېسته پرش شو چې زما په سینه یې وشیندله ورو ورو رانېږدې شوه یو لاس یې زما له غاړې چاپېر کړاو په بل لاس یې زما لاس تر خپلې نرۍ ملا را چاپېر کړ. کلکه راغاړې وتله.
له ځان نه مې تیله کړه کنځلې مې ورته وکړې ویل یې خبرې مه کوه که نه خلک درباندې راټولووم.
زه ترې روان شوم هغه هم راپسې سیخه راروانه شوه زیاته یې کړه ته اوس چېرته ځې؟
کابل ته پخیر...
زه هم ځم بیز اکمالاتي ته سبا مو یو ورځینی ورکشاپ دی هغه اخلم بیا به ځم کور ته، مخه ښه مو وکړه.
زه د کابل موټر کې کېناستم خو فکرونه مې بیخي بل ډول وو یواځې د پانې په هکله فکرونه، حیران وم.
غوږې مې په غوږ کې کېښودې او د شاه فاروق کاکړی مې اورېدې په دوو لارو کې حیران پاته وم چې اوس څه وکړم(؟)

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیغام مې ورته پرېښود چې جان مې اوس څنګه یې؟
لایقه ته څه فکر کوې بې له تا به څنګه یم...؟
ولا که رښتیا ووایم پانې دستي هېڅ فکر نشم کولی، یو څو پوښتنې مې ذهن کې اوړي را اوړي او ځواب یې ډېر اړین دی او د دې سره یو څه مې ظاهراً هم ولیده.
پانې ته د بل چا سره مینه لرې او واده دې هم ورسره کیدونکی دی ماسره دې عجیبه لوبه وکړه...
چپ چپ چپ لایقه دا څه وایې لږ مې زړه خوږین دی، چې اوس تا هم راسره شروع وکړه او د دې سره داسې فکر ته کولی شې چې زه به تاسره خیانت وکړم؟
پوهېږم یو څه ستونزې شته دی او دا زما له مجبوریو استفادې دي چې کېږي.
خو ټوله کیسه درته په لیکلي بڼه درکومه ستا ټول سوالونه به در ځواب کړي، او نور د خدای لپاره له ازارولو مې خوند مه اخله د دنیا په مخ یو تا لرم او نور مې څوک نشته که زما لپاره مانه نه قرارېږې نو د خدای مخ ومنه چې نور بس کړه مه مې زوروه.
او رښتیا لایقه د مرکې کار دې څنګه کړ؟
دلته یو ډېره لویه ستونزه ده نور کار زما له وسه بهر دی، باید په دې نېږدې ورځو کې جرګه راولېږې زما د غوښتنې لپاره که ستاسې د کور یو ماشوم راشي نوره زه پوهېږم او زما کار ؛ ته بیا ترې بې غمه شه
پانې ګلې ! زه اوس نه یم چمتو ځکه له یوې خوا مې مور مرګونی حالت لري ،او بله خوا ځینې ستونزې دي لږ وخت ته اړتیا شته.
ګوره لایقه ته به داسې فکر کوې چې پانه ډېره سپکه انجلۍ ده، خو داسې نه ده ما به نن او سبا کې درنه ورکړي زه نور هېڅ نشم کولی بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



به نه ته زغم ولرې او زه خپل د حال هېڅ نشم ویلي، آیا ته دا زغملی شې چې زه د بل کور میرمنه شم، ته دا څنګه پښتون یې چې ما بل انسان خپلې خواته واچوي او مینه دې ستا یم
ګوره پانې زه هم ستونزې لرم، زه هم د دې لیونۍ مینې یو اړخ یم که تا مینه کړې ده نو ما هم کړې ده، ته فکر وکړه مور مې په کوم حال کې پرته ده څنګه کور کې یاده وکړم چې زما لپاره په چا جرګه شئ...
افففف خدایه ! صبر راکړې
خو ګوره لایقه چې سبا ماته د ملامتې ګوته ونه نیسې، ما درته د وروستي ځل لپاره وویل بیا یې نه وایم نوره نو ستا خوښه
سمه ده پانې چې ته زما ستونزې نشې درک کولی نوره ستا خوښه ده اجازه ده درته...
د پانې ځواب ورک شو، ما هم موبایل جیب ته کړ ناوخته مازیګر کابل ته ورسېدم. تر ماښامه د پانې کوم پیغام رانغی سودا مې شوه سخت زیات خواشینی وم د وړانګې نمبر مې ډایل کړ خو د هغې تلیفون هم بند وو فکر مې وکړ بله داسې شماره مې ذهن ته رانغله چې د پانې پوښتنه ترې وکړم نو د هیلۍ شمېره مې کېکاږله
سلام سلام لایقه !
علیکم سلام له پانې معلومات نلرم زړه مې خولې ته راغلی یو څه وکړه لایقه کېسه کې یې مه اوسه
نه کېږي هیلۍ هله نو یو څه وکړه
سمه ده زه به یې له چا معلومات وکړم
هیلۍ مهرباني به دې وي حتمي راته معلومات راپیدا کړه
سمه ده
زه په تخت کې اوږود اوږود وغځېدم سګرټ مې ولګوه ساړه اسویلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځخه کېده، چې په دې کې د موبایل سکرین وپرکېد ژر ژر مې ځواب ورکړ.
لایقه ! هغه مرداره خو په روغتون کې بستر ده وایي څه یې خوړلي، چا به بیا د کوم یار پیغور ورکړی وي دا لس مړیزه لس یاران لري.
هیلۍ له نورو خبرو تېرېږه ته دا معلومات له چا وکه؟
ما یې د مور ستوریه شمېرې ته زنګ کړی و دا یې د مور خبره ده
هیلۍ شمېره یې راکړه
ماته یې شمېره راکړه هله نو
شمېره مېره نشته زه چاته د چا شمېره نشم ورکولی
وایم شمېره راکړه هیلۍ له تا مې دا هیله نه درلوده
ته صبر لایقه زه بیا اړیکه ونیسم تا ته به خپله پانه زنګ ووهي ورسره وغږېږه
سمه ده ژر کوه نو

● ● ● ●

مرګونی انتظار اوږود شو...
سلام لایقه پانه سخته شوې ده د ولسوالۍ له روغتونه یې د ولایت سیمه ایز روغتون ته وړې ده او مور یې پاتې شوې ده د بل چا شمېره نلرم چې ورته ستا په هکله ووایم، دا به څنګه شي؟
اړیکه مې پرې قطعه کړه وضیعت مې بیخي خراب شوی و بل ډول ژړا راتله ډېره ناهیلي موجوده وه لاره رانه ورکه وه، څلور ورځې مې له پانې خبر نه درلود. خو بس څلور ورځې مې کابلي جهنم کې تېرې کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



...
په څلورمه ورځ وړانګې زنګ وکړ شروع یې وکړه
د هرې بدې خبرې یې وکړې، ته څانته انسان وایې د پاڼې له ژوند سره دې لوبې وکړې ته وګوره کوم حال ته دې ورسوله کافره څوک داسې کوي؟
ما هم حوصله ونکړه څه چې مې په خوله راغله ټولې ستغې سپورې مې ورته بیان کړې او اړیکه مې پرې کړه.
ساعت تېر نه و چې له یو نابلده شمېرې زنګ راغی
رپ رپ غږ، بد ټوخی، ژړا او سلګو غږونه راتلل زړه مې له سینې رابهر شو دا مې نو د جانان غږ و نېغ په تخت کې کیناستم
هلو هلو ! پاڼې ته ښه یې پاڼې وه زما پاڼې، له سترګو مې د اوښکو باران جوړ شوی و. دا سېلاب له څلورو ورځو را ټول شوی و اوس یې لاره پیدا کړې وه
د پاڼې د زړه زور مات شوی و.
غږ یې داسې و لکه د بدرنګه ځنکدن سلګۍ چې وهي، ما دومره واورېده چې یې وویل (لایقه زه اوس ښه یم ته مه خفه کېږه )....( ! )
نوره نو اړیکه پرې شوې وه ما په هلو هلو ټوله کوټه په سر اخیستې وه، ما ته اوښکې او په کوټې کې ښکته او پورته منډې پاتې وې
فیصل جان چې اصلاً له بدخشانه دی زمونږ کابل د دفتر مبلغ و، زما حالات یې درک کړی و زما خواته راغی تر څنګ مې ودرېد.
(لایق جان کدام ګپ خو نیست، چرا جګرخون استی )
فیصل ته مې ټوله کیسه وکړه هغه ډېر زیات خواشینې او خفه شو، په دری ژبه یې راته وویل راځه چې دننه لاړ شو د یوه مشاور سره یې راته وخت واخیست د روحي مشاورې مشاور سره مې مشاوره وکړه نسبت

(c) ketabton.com: The Digital Library



له مخکې مې لږ حالت ښه شو.

ماښام د پاڼې زنګ راغی له خوشالۍ مې په نڅا شروع کړه موبايل مې ښکلولو ژر ژر مې ځواب ورکړ

زما ژونده سلام اوس څنګه يې ښه يې تکليف خو دې ډېر شوی نه دی وه زما پاڼې؟

پاڼې په قرار وخندل او ويل يې لږه حوصله وکړه هو زه ښه يم شکر دی همدا اوس کور ته راغلم پوره له يوه پنډ دوا سره ستا خبريدا اړين وو ځکه مې خبر کړې کله پخير له کابله راستنېږې؟

که د الله خوښه وه په پنځمې نۍ درځم

ښه بل ښه خبر دا دی چې جمعې ورځ زما د ژوندون وراره د سنت مراسم دي ګډون خو پکې نشې کولی خو خبرول دې حق و، ځکه چې څوک دې ونه پېژني.

امممم ډېر ډېر مبارک شه مراسم مو پخير شه!

داسې وګڼه چې لايق په ملي پوځ کې دنده لري، په هلمند کې پروت دی او دلته د ژوندون د سنت مراسم دي خو خفه په دې يم چې ژوندون ماته هم ډېر ګران دی د هغې د حق ادا کېدنه راڅخه پاتې کېږي نو...

نه لايقه ناجوړه عمه لري، صحت مې چندان ښه نه دی خو د هېڅ شي کمی به نه وي.

هر څه ورته چمتو کووم ماته ډاکټرانو اجازه نه راکوله، خو د مراسمو مو ورته وويل ځکه له کابله او پېښوره مو ميلمانه او خپلوان راغي يو اونۍ مخکې مو خبر کړي وو.

زه به د جمعې په ورځ کلي ته درشم مراسمو کې ګډون نه کوم خو ستا د خوښۍ لپاره به ستاسې له کوره زيارت وکړم پاڼې.

سمه ده لايقه راشه زه به ستا په تمه يم په لاسونو مې نکريزې کېښودې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ورغوي مې LLP وليکه..وه ليونۍ LLP څه مانا؟
L يعنې لايق L يعنې LOVE او P يعنې پانه..
هههه...
ولې دې وخندل لايقه؟
هسې !
هسې مه خانده دا درې توري زموږ د مينې لنډيز شو
سمه ده، او بل دا چې لايقه مور مې راته اميل ګوتمې او هر څه اخيستې خو نه يې کاروم ځکه په غاړه مې تا راوړی اميل دی او له دې بل ښه په ټوله نړۍ کې نشته
ای د غوا لورې اهغه خو به نور زاړه شوي وي وه يې باسه ګوزار يې کړه چې لايقه بيا داسې خبره ونکړې کله چې مړه شوم هم راشه ستا امانت به مې په تن وي او يو ميخکی مې په پزه نه دی ځکه د هغې غمی غورځېدلی دی غمی او ډنډر دواړه مې ساتلي دي دې سنت ته به يې جوړ کړم
هههه د کباړي لورې !
ښه ده چې يم تا ته يې څه نو ته ولې سوزې؟
سوزمه نه د پوډري لورې ! ستا ليونتوب ته حيران يم
بس زه همداسې لېونۍ ښه يم او ته خوشاله ؟ !
ښاا! زه ويده کېږم
صبر شه د غوا زويه ! اوس ښځې سندرې وايي درباندې سندرې اورم
هههه سمه ده خو ته به هم سندره وايې او هم به پکې نخېږې
زه به دې د دواړو باقي شم پيره
ښاا! نو ويده شوم
مه ويده کېږه وايم صبر شه لايقو

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه نه ویده کېږم چې پروګرام پېلېږدو بیا را ته خبر راکړه زه به ویښ یم
سمه ده ګرانې؟
سمه ده لایقه مسکال درکومه پیسې نلرم بیا زنګ راووهه
لس بجې به وې چې مسکالونه راغلل زنګ مې ووهه د چمبې او
خانک غږونه راتلل یوې ښځې غږ وکړ چې دا سروکی واچوه چې
ګودر ته مه ځه زر زرې شال دې لمدېږي
وه ګلالۍ ؛ ګلالۍ زار زار یخ شمال لګېږي
او ویل یې چې زه به ورته تاوه شم د سندرې په جریان کې دوه درې ښځو
ځان سابه کړ.
سندره خلاصه شوه خو د چمبه مارې ګوتو خارښت کوه، د خبرو په
وخت یې هم میده میده چمبه وهله او نری نری ترنم به یې ورسره کولو.
فکر کووم پانه د چمبه مارې سره خوا کې ناسته وه بل سروکی یې دا
راونیوه چې:
تورلونګ دانې دانې
په سینه وهي ټالونه
ځار دې شم له سپینې خولې
په لنډۍ زنه خالونه
له یوې خوا یوې ښځې په شینکۍ غږ راوکه چې پانه را میدان ته کړئ،
پانې د بر عذرونه وړاندې کړل خو چا ونه منل موبایل یې په لاس کې
نیولی همداسې یې دوه چرخه ووهل په دریم چرخ یې پښه ونښته او
راولوېده. خنداګانې شوې زه هم له خندا شین وم پانه په بله کوټه د ننه
شوه ساه ساه وه ما ورته ویل ولې د غوا لورې؟
ویل یې ما درته نه ویلې چې څه ته راباندې خلک خندوې ما نو کله نڅا
نه ده کړې او نه یې کوی شم کله چې پاڅېدم موبایل ته مې پام شو ما

(c) ketabton.com: The Digital Library

له مسکاله تر دې حاله ۹۰/۱

ویل دا هر څه خو ته اورې وارخطا شوم، له تاثیر لاندې راغلم له ښو
مې دم وخوت درز شو راولوېدم هههههه...
د غوا لورې..
باور وکړه لايقه کله مو چې روغتون کې د فراغت مراسم وو، په هغه
شپه مو بد حال را اخيستی و، چا څه کول او چا څه ما له ځانه سرې جوړ
کړی و همداسې په ګډا تالار ته رادننه شوم.
ټولو انجونو منډې کړې چې دا څوک راغی وروسته مې ورته وخندل
چې زه يم يوې ملګرې مې راته وويل راځه زه انجلۍ او ته خو هسې نه
هم هلک يې يو ځای ګډېږو ما ورته وويل سمه ده.
هغه چې څنګه تاوه شوم په چپرکټ کې مې لمن ونښتله او په بل مخ را
وغورځېدم، ډېره خيجله شوم اوس يې هم ملګرې راته يادوي او اوس
دا کار ههههه توبه توبه..
ای ناروغه ښځه يم ماته چا ويل چې د روغو ښځو پېښې کوه په شرمو
وشرمېدم لايقه!
لېونۍ په همداسې ژوند کې لذت او خوند وي
سمه ده زه نو اوس وځم چې څوک شکې نشي او ته هم ويده شه سبا موږ
ډېر بوخت يو که وخت مې پيدا کړ زنګ درته کووم کنه خفه نشې نو
ښاااا سمه ده ښه شپه.....الله په امان
سهار دفتر ته ولاړم دا نو زموږ د سيمينار وروستۍ ورځ وه په دې ورځ
نو پانې مسج او مسکال ونکړ د شپې لس بجې جلال اباد ته راورسېدم
پانې ته مې پيغام پرېښود چې زه جلال اباد ته راورسېدم
سهار چې راپاڅېدم د پانې پيغام راغلی و لايقه شکر چې پخير راغلی
يې ښښنه غواړم موږ ميلمانه درلودل سبا پخير راشه خو پام چې د
نارينوو په مراسمو کې ګډون ونکړې پښتون او څراغ دې پېژني چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

له مسکاله تر دې حاله ! ۹۱/۱

کوم جنجال را پیښ نشي

چې راورسېدې که موقع وه د انګړ مینځ کې دریږم ته به مې له کوټې وینې او چې په کوټه کې تېر شوې زما اروا به تازه شي جان حتمي راشه سمه ده جان مې.

سهار درځم که ژوند و

سلامونه سهار پخیر سوړانه !

مننه د کوچو غونډاریه ستا دې هم پخیروي

مننه کوم

کوه چې کوې یې ؟ !

هلکه د فضول خبرو نه تېرېږه راځه چې هملته ځو

کور دې وران شه بیګا له کابله راغلې او اوس له شنه سهاره هلته ، د عاشقانو نوم دې وشرموه ههههه

د ډاکترې د وراره د سنت ګېرۍ مراسم دي نو ځکه ځو سوړانه

یه هلکه ! په چا مو ونه ډبوې

نه راځه په چا کار نه لرو

پوره زر افغانۍ به راکړې د څلور سوه به تېل واچوو او نورې به کور کې ورکړو

ځه ګورو به د ډمې ځویه حرکت وکړه ریکشه ده څه تیلر خو نده

سمه ده .... لایقه زه د مرکز دوهمې دروازې ته راورسېدم

د غوا ځویه زه اولې دروازې ته راورسېدم ... داسې دوهمې کوټې ته راووتم ته هم ژر راشه چې ناوخته دی

ای هلکه ! چیناره سګرټ لرې؟

د مور ځویه د سګرټو کیسه کې مه اوسه د جنسنګو غم کوه چې مثلې مو قوي شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

له مسکاله تر دې حاله ۱/ ۹۲

سمه ده غاړې ته ودرېږه واخله په خاورو موړ شې
ستا تګ راتګ راته په پينځه زره افغانۍ تمامېږي
د مور ځويه دعا کوه چې ستا غوندې قوارې زه په وخت ورم او راورم
که نه تا ځوک په لس زره هم نه وړي
هههه ډېر د نه سړي ځوی يې!
د مور ځويه په دې جنسنګ کې خو يې دومره کم اچولي و؟!
د غوا ځويه مزل وکړه تا راته ايله خپلې کيسې شروع کړې دي ټيپ دې
هم کار نه کوي
په ټيپ څه کوې زه يې درته په ژوندۍ بڼه وايم لايف يې واوره
نه صبرېږي ياره بې له تا زړه سره څه وکړم
رايې وستم ستا کوڅې ته بيا زړه سره څه وکړم
ډېرې که توبې د ښکلو يارانو نه کړم
ماته کړي توبه راباندې بيا زړه سره څه وکړم
وا د کوچو غونډاريه دا خو راورسېدو
دا رېکشه خيبر دوکان مخې ته ودروه
سمه ده
وا هلکه خيبريه ريکشې ته ګوره
لايقه مخکې شه نو کور يې لرې دی که نېږدې؟
وريجې او غوښې به ترې ووهو نور يې مور... هههه
راځه غوښه مښه نشته يوائې په لار تېرېږو او بېرته راځو
دا نو څه شی شو پاڅه مړه! ههه
يه هلکه! جينکۍ دي جينکۍ؟!
راځه دا به د ډاکټرې ميلمنې وي
بووووو دا څه بلا ګانې دي..

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افریقې زرخانګه به پرې وبښې
سوډانه مخامخ وګوره
کوم خوا؟
هغه مخامخ وګووره د غونډۍ له لورې چې راښکته شوې
او په خدای د مور ځویه دا زېړ ګنډ افغاني والا ډېر عجیبه شی نه دی؟!
او په خدای بچیش ماته لکه چې خدای د وړانګې بدل راکړ
مور د وړانګې.... دغه دی شی !
لایقه سم لاندې باندې ورته وګوره بیا یې ننښې پاڼې ته ووایه چې شی وانه لوزي
نه شي الوتی راځه همدا د ډاکترې کور دی دا ښځې چې وردننه شوې
موبایل یې ځواب نه کړ؟
نه بوخته به وي
څو دوی د سنت ګیرۍ نه پور واده جوړ کړی
شنه دي کنه یوه لکۍ نه لري؟! ههههه راځه چې څو ډوډۍ به هوټل کې وخورو بیا به ښار ته حرکت وکړو.
سلام لایقه پاڼه یم دا مې د مور شمېره ده زما موبایل شملې په اوبو کې غورځولی اوس کار نه کوي، تا څه وکړه؟
ما دا وکړه چې اوس بېرته په لار یم د ښار په لور
دروغ مه وایه !
د غوا لورې که یې نه منې له سوډانه پوښتنه وکړه؟
اففففف خدایه دا څه وایې دا څه وشو؟
ما څراغ پوه کړی و چې بېرون اوسه کله چې دې لایق ولید، بیا ماته ووایه
پاڼې ته عجیبه خبرې کوې اول دې ویل چې څراغ او پښتون دې ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

له مسکاله تر دې حاله ! / ۹۴
وینې اوس وایې چې ما خراغ پوه کړی وه.
هغه ما ولید خو ژر مې پزې ته ماسک واچوه، له ماشومانو سره په جنجال اخته و.
لایقه له زړه مې یو خدای خبر و د ټول واده شویو مېرونه راغلي وو زه د کوټې کونج ته ولاړم، ښه د ېر مې وژړل چې کاش لایق هم راغلی وی که یې نه منې له غونډۍ لوري څلور انجونې راغلې، د یوې زیړ افغاني ګنډ په ځان و د ېره لوکسه وه.
ښاااا بس کا هغه څه ګړینګنه ده، تاته هسې پردۍ ښځې ښې ښکاري!
چپ شه د غوا لورې د چینار خوښه شوه هههههه
ههه بیا نو ښه انجلۍ ده د کاکا لور مې ده، او خاطره نومېږي زما او ستا له اړیکې خبره ده هره ورځ راځخه ستا پوښتنه کوي
ښاااا سمه ده زما کار دې څنګه کړو؟ د څه کار؟
تاچې وعده کړې وه چې ته له کابله راځې ما به د ژوند ټوله کیسه لیکلې وي دربه یې کړم.
ښاااا پوهه شوم لایقه خو ته پوهېږې چې ستا له تلو نه وروسته، زما ټولې شپې په روغتون کې وې.
او چې راغلم نو د ژوندون ښادي وه، نو څنګه مې لیکلې وی او کله مې لیکلې وی.. چې دا میلمانه لاړل وه به یې لیکم خو شاید څو ورځې مې موبایل هم بند واوسي ځکه موبایل مې خراب شوی تر هغې چې بل موبایل پیدا کووم د مور په موبایل به دې احوال اخلم
سمه ده خورې خو کېسه دې هېره نشي چې زه ورته ښه سخت په تلوسه کې یم.
په سترګو د اوس لپاره ښه وخت او ښې چارې درته غواړم او ربنتیا په لاره کې دې د ځان خیال کوه زه دې ځارلی نشم مور مې موبایل غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعاو کې مې یاد یې د خدای په امان..

پوره دولس ورځې دې مینځ کې تیرې شوې د پاڼې د مرګ او ژوند درک نه لګېده، فیسبوک مې خلاص کړ د ملګري علي شباب په وال څو له درده ډکې کرښې لیکل شوې وې هغه لیکلي وو:

(شېبه شېبه په بې صبرۍ او وارخطایئ سره مسنجر ته سر ورښکاره کووم، خو ستا سلام کلام نشته مرم درپسې.

نازولیه جانانه! ډېر درپسې خفه یم

څه وکړم یواځې اسویلي راپاتې دي، بس دی راشه د تلیفون سکرین مې وپړکوه راته ووایه له تا نه ډېر په تا پسې خفه یمه زه یې چې تر هغې لیکم ته راته مخکې ولیکه چې (مینه درسره لرم)

ستا مئین بې تا هېڅ دی.

مینه او درناوی

د علي شباب دې لیک نو بېل درد راکړ، دې لیک څکه د کیفیاتو په حدونو ګډ کړم، چې دستي زما حال همدا و لکه علي چې زما له حاله خبر وي.

او زما درد یې انځور کړی وي دا وخت نو د درویش دوراني دا بیت مې خولې ته راغی:

بېلتانه دې د هر چا په غم شریک کړم
یار د بل درومي او زه ورپسې ژاړم

څوارلسمه ورځ د پاڼې د مور په شمېره پیغام راغی

ژر ژر رانېغ شوم موبایل بلا وهلی مې هېنګ شو، ما هڅه کوله چې ژر ژر یې ولولم خو موبایل کار پرېښود.

بل ډول مې عصاب ګډوډ وو، خو پیغام مې ولوست

(وبښه لایقه ډېر څنډ مې وکړ تا سره له خبرو دوه ورځې وروسته مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورنۍ زما ژوند د بل چاپوړې محدود کړ. هغه هم هغه څوک چې ته یې د غرني په نوم پېژنې، په وجود کې مې یو ګوته روغ ځای نشته ووهل شوم پلار په تودوو چړو وداغلم وروړ زندۍ کړم همداسې بې هوشه شوې وم.
چې تر هغې په حال کې کېدم نو زما د سمال یې ورکړی و. تر دې وخت په کټ پرته وم بېګا راکې لږه شیمه راپیدا شوه ستا لپاره مې په مختصر ډول یو څه ولیکل د هر څه به پاتې وي.
خو په هر حال اړین موضوعات پکې یاد شوي دي، بل دا چې ما ادبیات نه دي لوستي ساده خبرې دي خدای دې وکړي چې ته پرې وپوهېږې، یو دسمال مې هم درته جوړ کړی، کار یې لا پوره نه دی خلاص همداسې نیمګړی یې درکوم شاید دا زما او ستا وروستی لیدنه شي ځکه زه نه غواړم چې نور ژوند وکړم سبا پخیر راشه چې امانت دې در وسپارم).
سمه ده پاڼې خو دا چې ته موبایل نه لرې دا به څنګه شي؟
زه به لس بجې له کور درووځم ته هغه د شېدو دوکان سره په تمه شه
سمه ده
او بل دا چې پاڼې زما او ستا د مینې دوه کلونه برابرېږي ایا کوم داسې ارمان بې له دې چې زما نه شوې کوم بل څه لرې چې ما نه وي پوره کړی؟
اسو ېلی...هو ! شته
څه دي راته یې ووایه، ژوند به مې هم درځار کړم
یو دا چې ته ناروغ شوی وې باید روغتون کې دې خدمت ما کړی وی.
بل دا چې ته راغلی وې او زه ناروغه وم ما ویل تا به زه ښکل کړم او ته به ما په غېږ کې ونیسې، خو نه په ما کې ساه وه او نه تا ځان ته نېږدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړم زما لپاره به له دې نه ښه د زړه لوی بل ارمان نه وي
او یو څه بل هم شته هغه دا چې تا غوښتل چې زه او ته به بیګا ته خیالي واده وکړو، تا له ښاره شمعې او ګلان راوړل د سیند په غاړې دې په ګلانو زما نوم ولیکه، شمعې دې بلې کړې قضا ماښام و.
ما سره جوړه واچوله، په لاسو مې نکریزې ولګولې مراسم مو پیل کړل په تلیفون دا هرڅه د پر ښه روان وو، یو او بل ته مو د پرې ښې لارښوونې کولې تا چې زه قبوله کړم ما د قبولیت دوه پړاوه تېر کړي وو چې په دریم پړاو کې مې مشر ورور سپین غر راننوت.
موبایل یې راڅخه واخیست نکاح نیمګړې پاتې شوه، که څه هم دا د یو کال مخکینی کیسه ده خو باید سبا یې دریم پړاو تکمیل شي.
زما دې بدو ارمانونو ته په سترګو کې اوښکې ډنډ وې، له خولې مې اخو تړوخ نه خوت بس مړ وم ساه راڅخه وتلې وه یو ژوندی لاش پاتې شوی وم بیخي مې وضیعت خراب و همدومره مې له خولې ووتل
وه زما ګرانې پاڼې دستي ښه وخت سبا سره خبرې کوو... اړیکه مې پرې کړه
له ځانه سره مې ویل خدایه کاش زه په ابدي خوب ویده وی کاش زه خوب ګورم کاش پاڼې ماته هر څه دروغ ویلي وي.
په همدې کې د وړانګې شمېره د موبایل په مخ وپړکېده ما یې هم شمېره اوکی کړه.
په زاریو مې ورته پیل وکړ چې وړانګې خیر دی راته ووایه چې پاڼه دروغ وایي خیر دی، ژر کوه هغې په کړس کړس وخندل او زیاته یې کړه.
ته لېونی عجیبه سړی یې تاته خو څوک ټول عمر نشي کیناستلی، تا خپله په ځان وکړه بس زما درد، غم او غصه بیخي له کچې ووتل له

(c) ketabton.com: The Digital Library



قهره توراو شین شوم اړیکه مې پرې کړه وربانديې په دې سختو حالاتو کې بې حاله شوی وم...

سهار مې چينار اصف ننګ او نثارخان شينواری له ځانه سره واخيستل تور غر ته روان شوم، نهه بجې هلته ورسيدم شيدو دوکان کې مې وارول سوچونو پسې اخيستی وم.

ځان راته بل ډول ايسيده اريان دريان وم د دنيا ټولې ستړيا نن د يوه ناکام سړي په اوګو ايښودل شوې وې.

شيبه وروسته يو مات وجود رابښکاره شو، بې مجاله راروانه وه دا بل څوک نه زما بايلل شوې پانه وه.

پرده مې کش کړه د رارسيدو سره سمه راغاړې وتله، سلګو نيولې وه بنه ډېر يې وژړل ما ډاډ ورکړ کيناستو مخ مې وروړاندې کړ چې دومره مې ښکله کړه چې تر څو مې په اننګو کې ويني غوټه شي.

هغې هم همداسې وکړل بيا مې د خپلې سينې پورې کلکه ونيوله له سترګو يې بې واره اوښکې را روانې وې د اوربل لام يې اوښکو په اننګي پورې نښلولی و.

بيا مو د نکاح پاتې برخه تکميل کړه د دې سره يې په اشاره وويل زه ځم کورنۍ مې څاري څوک رانشي.

دا چې په لومړۍ ليدنه کې مې لايقه په خولې اخيستو خفه کړی وې اوس خوله رانيږدې کړه.

چې زه يې درنه خپله واخلم دخولې په اخيستلو يې غبرګې غبرګې اوښکې په اننګو راغللې، ښاااا نو لاليه په ځان پام کوه زما د يوه ځانګړي ارمان په خاطر ژوند وکړه زه شايد په شمار څو ورځې واوسم ځکه يو مې ته له لاسه ورکړې او بل هغه غرني له ځانه لېونی سپی جوړ کړی زما د پرله پسې انکارونو؛ د پلار ورور رويه او دروند ولور د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینه اوو ایم او که د میني په نوم یې چې کوم ،تور پورې کړی و.
له ماسره په دښمنۍ بدل شو اوس په موبایل کې راته ډول ډول
ګواښونه کوي لکه د ولور غچ اخیستل زما وژل وروسته له واده نه ؛او
آن تر طلاقه مې ګواښي؛دا چې زما پلار په غرني زیات ولور ایښی او
غرنی یې د ورکړې توان نلري پدې ډول اوس ماته پلمې جوړوي لا بقه.
پاڼې ما چې څومره فکر وکړو نوره هیڅ خبره نشته، خبره ټوله د ولور ده
د دې ستونزې د حل لپاره له ماسره یوه لاره شته هغه دا چې زه به په
خپله خوښه راشم ځان به د غرني په لاس کې ورکم غرنی دې د اختطاف
په نامه ما وساتي پدې سره کولی شي چې ستا د ولور پیسې زما له
کورنۍ ترلاسه کړي ترڅو دا ستونزه پای ته ورسېږي!
نه لایقه داسې نشي کېدی! زه بې لدې هم له هغه وحشي سره ژوند
تېرول نه غواړم چې څه کوي ودې کړي دا چې زما د ژوند پای شیبې دي
نو واخله دا نیمګړی رومال او دا دې کېسه..

.

.

.

ستا پاڼې د ننګرهار په کامې ولسوالۍ کې دې نړۍ ته سترګې
پرانیستې د ژوند پینځه کاله مو همدلته تېر کړل له هغې وروسته مو
د ننګرهار ولایت بتي کوټ ولسوالۍ ته کډه وکړه د پلار او نیکه
ټاټوبی مو تور غر دی.
دا چې له کامې څخه مو بتي کوټ ته کډه وکړه، نو همدلته کورنۍ مې
په یو منځني ښوونځي کې شامله کړم ډېر ښه او خوشاله ژوند مو
درلود پلار مې بزګر و.
او مور هم ورسره مرسته کوله د وخت په تېرېدو خپل کلي ته راستانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

له مسکاله تر دې حاله ! / ۱۰۰
شو، ژوند مو په پلرني ټاټوبي کې اختیار کړ، پاتې زده کړې مې دلته بشپړې کړې.
په ۱۳۹۴ه ش کال کې مې په یو طبي علومو انستیتیوت کې د قابلګۍ په څانګه کې زده کړې پیل کړې، او په ښه درجه ترې فارغه شوم.
د فراغت سره سم مې د ننګرهار په عامه روغتون کې دنده ترلاسه کړه، خو په ژوند کې مې یو څه ستونزې راغلې زما اړیکې له پلار او ورور سره خرابې شوې ځکه زه لوستې وم ما غوښتل چې کورنۍ مو سالم پرمختګ وکړي خو دوی زما له دغو هڅو ناسم تعبیر واخېست.
له دوه میاشتې دندې په جریان کې مې یوه ملګرې راپیدا کړه، دا ملګرې مې په یوه هلک مئینه وه د دوی ترمینځ ستونزه راغله دې ملګرې مې ماته د خپل یار کیسه وکړه او د هغې د تلیفون شمېره یې هم راکړه چې د اړیکې په جوړښت کې ورسره زه مرسته وکړم.
هلک ویل چې د جلۍ ژوند خراب نشي، ښه به دا وي چې سره جلا شو.
ځکه زه د وینې سرطان لرم... هلک له پیل او پای ټوله کیسه ماته تېره کړه، ماته یې د ناروغۍ ثبوتونه راوسپارل او ما جلۍ ته وسپارل، اخر جلۍ او هلک موافقې ته ورسېدل هلک د درملنې لپاره خارج ته ولاړ ماته یې خپله خور او زه ورته په ورور مخاطبه شوم.
زه ورته ځکه تر اوسه ډېر احترام لرم، چې له ما سره یې ډېره مرسته کړې ده زما خپل ورونه هم شته چې یو لوی او نور کوچنیان دي.
د مشر ورور سره مې اړیکه جوړه نه وه د کور ټول مسولیتونه مې خپله واخیستل پلار مې په لومړیو کې ځان د نظام په لیکه کې شامل کړ دا چې ورور مې ما سره ضد درلود د ښځو له زده کړو سره وران و.
پلار مې ژوندی دی خو په مړي یې ځکه حسابووم چې د یوه پلار مینه یې موږ ته نه ده راکړې، په خپله خوښه او د ورور په خوښه کارونه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور ته هر وخت هیڅ په هیڅه غصه وي خو زه یې لږ لږ مخالفت کووم.
زما د پلار تر ټولو بد عادت دا دی چې پیسې یې له هر څه ډېرې خوښې دي، دا چې زه هم د ځوانۍ موسم کې وم، خلکو به زما غوښتنه کوله خو ما نه منله، ځکه د زیاتو زده کړو ارمان مې درلود.
له ورځو څخه یو ورځ مې مور ډېره ناروغه شوه، زه هم جوړه نه وم د ښار په لوري مې حرکت وکړ.
کوچنی ورور راسره و تر څو مور ته له ټاکلي ادرسه درمل راوړم، په هغه وختونو کې زه سمه په ښار کې بلده نه وم، لږ څه وګرځېدم خو ډاکټر مې پیدا نه کړ.
د ستنېدو پر وخت د ملي امنیت یو کس را مخې ته شو، او راڅخه یې پوښتنه وکړه څنګه دلته ګرځې امنیتي اظهارات دي، رښتیا هم ډېر تدابیر نیول شوي وو ځکه سبا د افغانستان د خپلواکۍ ۹۶ مه کلیزه او جشن و.
د ښار واټونه په بیرغونو، شاه امان الله خان او د ولسمشرمحمد اشرف غني په انځورونو لا ښکلي شوي وو یعنې؛ جلال اباد ښار د یوې ښکلې ناوې په څېر سینګار و.
ما ورته وویل وروره ! ډاکټر ته راغلې یم خو راڅخه ورک دی که ته یې پېژنې معروف مخلص نومېږي، هغې هم ونه پېژنده.
د دعا په نوم روغتون ته د ملي امنیت کس یوړو دا روغتون د بهسودو پل هغې خواته موقعیت درلود.
کتنځي څخه په راوتلو یې له ماسره تلیفون ولید، له ما یې شمار وغوښتله او ما هم ورکړه، ځان یې ډېر مهربان وښود. دا چې زما دنده نه وه عامه روغتون کې مې استعفا ورکړې وه.
یاد کس زما د شخصي ژوند په اړه پوښتنې وکړې او ما هم ورځواب

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې، راته يې کړه که ستا خوښه وي دنده به درته پيدا کړم زه هم خوښه شوم، د سر په خوځولو مې ومنله.

کور ته راغلم.

څو ورځې وروسته د ملي امنيت کس زما اسناد او عکسونه وغوښتل، ښار ته لاړم د دوو نورو ملګرو سره يې خواته ورغلم، اسناد مې ورکړل او بېرته ترې لاړم.

څه موده وروسته يې بيا زنګ ووهه د واده غوښتنه يې وکړه، ما ترې وخت واخېست د وخت په تېرېدو راته ثابته شوه چې يواځې د ښځو عزتونه لوټوي او بس...

لايقه ! زه دا منم چې موږ د يوې مذهبي او عرفي ټولنې اوسېدونکي يو ، خو دلته د انسانانو په نوم باندې ډېر وحشيان ژوند کوي. ته دا ومنه کله چې يو شمېر انجونې د دندې لپاره يوې ادارې ته مراجعه وکړي، هلته د ادارې يو شمېر رهبري يې لومړی قواره ويني که ښکلې وه نو کار يې وشو، بيا وروسته ترې استفادې هم کوي هغه په انګليسي کې ورته (بلک ميل) وايي او که څه...

تا هم دغه حالت په يو شعر کې ډېر ښه انځور کړی دی:

ستا په بازار کې خوشالي بې پيسو نه خرڅېده
چې راسره نه وې پېسې، نو زه به تلم درڅخه؟
دلته د پېغلو له وجوده سترګې نه وتلې
غربت وو نه مې وې جامې، نو زه به تلم درڅخه؟

خو له ربه مې راضي يمه چې ډېر ژر راته وشرمېد ، ما چې اسناد ورکول دوه ملګرې راسره وې او بل دا چې د سرک په سر مې ورته وسپارل، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې پلان ماته د (بلک میلی) و.
دا چې دا څنګه انسان و د هغې نېږدې دوست زما شماره ترې پته کړې وه، او ماته یې رسوا کړ دې اړیکې شاوخوا یو میاشت وخت ونیوه، له هغې ورځ راهیسې ترې خبر نه لرم دې کار نو زما باور په سړیو صفر کړ. دې کار زه ډېره هوښیاره کړمه او ژوند ته مې ښه پام شو، که څه هم ډېرې ستونزې موجودې وې، د ژوند زیات ضرورتونه ما خپله پوره کول.
کورنۍ مې په ما ډېره باوري وه، د پوهنتون دوره او د روغتون د دندې دوام په وخت مې کور ته تګ راتګ خپله کوو چې په دې وخت کې له یوې ستونزې سره مخ شوم.
پلار او بابا مې جدي پرېکړه کړې وه چې ما د کاکا په بدل ورکړي، ما یې جدي مخالفت وکړ و پلار مې زما جدیت لا غصه کړ او وه یې ویل چې دا کار به حتمي کېږي دا زما اخري پرېکړه ده.
زه هم مجبور وم حل لاره مې لټوله دا چې وړانګه زما تر ټولو نېږدې ملګرې وه، او له ټولو رازونو مې خبره وه، زه له عامې روغتیا روغتون څخه یوه شپه له هغوی کور ته ولاړم. یو وخت وړانګې په کابل کې سیمینار درلود هلته د یو هلک سره مخ شوې وه هغې ورته ځان ډېر لوړ پېژندلی و، د وړانګې پوره باور یې لاس ته راوړی و. په دې شپه ډېر زیات باران و اسمان سمې خبرې کولې د وړانګې سره په خبرو وم، چې هغې هلک زنګ ووهه.
وړانګې سره یې له څو خبرو وروسته اړیکه پرې کړه، دا چې زه او هغه هلک دواړه له یوې سیمې وو. زما اړوند پوښتنې یې ترې کړې وې، ما د وړانګې یوه خبره هم ځمکې ته نه غورځوله
بې له دې چې ما خبره کړي زما خبره یې د هغې هلک سره کړې وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلک بیا زنګ ووهه دې ورزیاته کړه خورلنه مې راغلې ده برق هم نشته، خور مې ډېره زیاته نازولې او نازکه ده او بله دا چې دا هم ستا د کلي ده.

ما ورانګې ته په تریخ نظر وکاته هغې هم اړیکه پرې کړه، سم له لاسه یې په نورو خبرو بوخته کړم. څه موده وروسته هغه هلک له ورانګې غوښتي وو که دا جلۍ له ماسره واده کوي نو زه تیار یم دا نو داسې وخت و چې پلار مې زه د کاکا په بدل ورکولم.

زه پرې راضي نه وم هغه هلک هره ورځ له ورانګې زما پوښتنه کوله، بله ورځ ورانګې مشوره راکړه چې پلار دې په بدل ورکوي خدای خبر هغه به څنګه کورنۍ وي.

غرنی ډېر ښه انسان دی ځانته دې غواړي دا رشته به درته ښه وي، ما مې د مور سره دا خبره شریکه کړه دا چې د کاکا په بدل تلم او کورنۍ هم نه وه معلومه نو مور مې دا رشته غوره وګڼله.

په دې وخت کې ما په یو انستیټیوت کې استادي واخیسته، او دا ځانګه یې زموږ په کلي کې نوې پرانیستل شوه تدریس مې پکې شروع کړ، دلته زیات محصلین د غرني دوی له کلي راتلل یو ورځ مې په ټولګي کې د غرني دوی کورنۍ په هکله پوښتنه وکړه چې زیاتره محصلین د دوي له کورنۍ سره اشنا وو.

ټولو محصلینو یې ستائینه وکړه خو یو څه چې ډېر حیرانوونکي وو یوې زده کړیالې وویل چې غرنی بله مېرمنه او بچیان هم لري د دې نه وروسته ما غرني ته ځواب ورکړ چې واده ورسره نه کووم ځکه چې بله مېرمنه یې درلوده.

دا داسې وخت و چې زه لا غرني نه وم لیدلې پرته له کوچنیوالۍ له یوه انځوره، څو ورځې وروسته یې د کوچني ورور په مرسته (میمورۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاږه) کې خپل عکسونه راولېږل په دې کې ډېره موده تېره شوه.
ما ورته وویل زه د ټولنې خدمتګاره یم، غیر له دې چې واده راسره وکړه نور هر ډول کومک چې زما تر وس وي کووم یې، بله ورځ د غرني وربندار په ماشوم ناروغه شوه مرسته یې وغوښته زه یې هلته ولیدم ډېرې ورځې تېرې شوې غرني په داسې پلانونو کار شروع کړ، تر څو په مرسته یې ما د خپل حاکمیت لاندې راولي خو بریالی نشو.
ډېرې غوښتنې یې وکړې خو ما رد کړې له دې وروسته غرني زما له ورور سره ملګرتیا پیل کړه او دا اړیکه یې په کورني تګ راتګ بدله شوه.
ماته یې ډېر وویل زه له چا ډار نه لرم، دومره وس او توان لرم چې تا وتښتووم، ښه به دا وي چې زما غوښتنه ومنې.
په دې کې یوه ورځ سور رنګه موټر زما شاه ونیوله، زه پوه شومه چې د قوي ځار لاندې یمه ډېره په ویرې او سختۍ تر کور ورسېدمه
د دې پېښې تر واقعه کېدو وروسته مې ډېر احتیاط کاوه. دا چې غرني په اونۍ کې دوه ځلې زمونږ کور ته راته، نو په دې سره یې زما د ورور خسر او اوښی چې انیل نومېږي کوم چې تا یې مخکې په هکله له ما پوښتني ول سره هم وپېژندل، بیا به نو هره ورځ د دوی تر مینځ ملاقاتونه کېدل.
دا چې ورور مې او انیل پردیو انجونو ته زنګونه وهل، نو غرني هم ځینې خبرې په یاد بنډار کې کړې وې چې زه هم مئین یم، د شپې او ورځې خوبونه مې حرام شوي دي ټوله ورځ مې هغه دنګه ځواني، ګلابي مخ ،سراحي غړۍ، بادامي اوږدې سترګې، خندانه قواره، په سترګو کې رغړې را رغړي.
ډېر زوروېږم دا چې دوې اوس ډېرې نېږدې اړیکې درلودې، ورور مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غرني ته ويلي و چې د جلۍ کور راوښايه که په هر قيمت وي جلۍ درته کوو. غرني په هغه شپه غلی پاتې شوی و، خو په سبا يې زما د ورور خسر ته زموږ کور او زما رشته ياده کړې وه.

په دې وخت کې زه له دندې څخه کور ته راغلم، ډېره ستړې وم د برنډې پايې ته تکيه شومه چې د ورور خسر مې په مرکه راغی.

په يادونې يې زما پلار کوم عکس العمل ونه ښود خو ورور مې ډېر جدي شو، ځکه چې غرني په هغه شپه ويلي وو چې جلۍ هم له ماسره مينه لري ورور مې ورته په هغه شپه ويلي وو ښاااا چې ته دومره مئين يې او جلۍ هم تاسره جوړه ده درته به يې راوتښتووم

خو ورور مې خبر نه و چې زما خور يادوي، د غرني سره مې ورور دښمني پيل کړه ډېر غصه شو، زما موبايل ته يې فکر شو هغه يې راڅخه راواخيست.

د بد قسمتۍ چارې ګوره پدې وخت کې غرني ځيني پيغامونه راوليږل پدې پيغامونو سره مې پلار داسې فکر وکړ، چې ګوندی زه له غرني سره لار لرم.

غرني د انيل کورنۍ ته زما د سپکاوي او بد نامۍ په پار ډير درواغ ويلي ول، چې پانې رانه ډېرې پيسې خوړلي له ماسره چکرو ته تللې او ديته ورته ډېر پرو پاګند يې ويلي ول د انيل پلار د غرني ټولي خبرې زما پلار ته وکړې.

پلار مې د دې خبرو په اوريدو سره ډير جدي شو، او ماته يې هيڅ وخت د خبرو لپاره رانکړو پرېکړه يې وکړه چې غرنی دېرې ته راولی او دواړه يو ځای ووژنی.

چې مردار شي خو د هغوی کورنۍ عذر او زاری ته راغلل، پلار ترې زما په بدل کې د غرني خور زما د ورور او ميرمن يې ترې ځانته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وغوښته مشران او سپین ږیري منځته شول خبره یې هواره کړه.
دا چې ما په هغه انستیتیوت کې درس ورکاوه، غرني دا وخت دنده نه درلوده او په انستیتیوت کې یې ځان شامل کړو ما له دندې استعفاء ورکړه. او نمبر مې هم بدل کړو انیل چې د غرني نږدې ملګری و، او خور یې زما د ورور میرمن وه نو زما نوې شمېره یې غرني ته ورکړې وه.
ما دا خبره پلار ته نشوه کولې ځکه چې زمونږ کورنۍ د انیل دوې سره په دښمنۍ اورېده، پلار مې پرېکړه وکړه چې یا دې نن شپه غرني او یا دې د ماما لس کلن لیوني زوې ته ورکوم. ستا لپار نور زما په کور کې ځای نشته که دغه وخت ما انکار کړی وی.
غرني شرمولم کورنۍ مې ټولې خبرې منلې وې
لا بقه ما چې په تا تېنګار کوو، ستونزه داوه چې ترڅو غرنی ما غواړي نو زما کوژده به له تا سره شوی وي.
بیا به ستونزه نه وي خو دا خوب مې په اوبو لاهو شو، دا چې مشر ورور راسره وران و نور کوچنیان او پلار په دنده کې وو. بس چې چرته به تلم د خلکو پام به زما په لور و.
نه پوهیږم ډیره ښایسته هم نه یم، او نه داسې بې اختیاره مزل کوم چې د خلکو پام راواړوم د انسانیت نه مې نفرت پیدا شو.
نه پوهېږم چې لایق به کومې ستونزې لرلې چې زما غوښتنه یې ونه منله، او زه یې د اور لمبو ته ګوزار کړم افسوس... ما نور وس نه درلود د غرني کورنۍ سره مې کورنۍ په دښمنۍ اوریده پلار له ما دا پوښتنه هم ونه کړه چې ستونزه په څه او په چا کې وه، خو بس په پټو سترګو یې د غرني ټولې خبرې په ما راوتپلې. مور مې غوښتل چې دښمني جوړه نشي باید د غرني مرکه ومنم
کنه مور مې هم هاغه سپي ته په موبایل ډیرې زارۍ کړې وې، خو هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

له مسکاله تر دې حاله ! / ۱۰۸

په ډېرې سپين سترګی سره رد کړی وې او زما په مور يې هم تور ږ.رې کړې وو چې د مور يې هم راسره خوښه وه ما د سر په خوځولو سره ومنله خو چې کله د غرني مرکه راغله ته مې راياد شوې لايقه !
او بيا مې انکار وکړو د انکار پايله دا وه چې ټول ټپي وجود مې ستا پر وړاندې دی.
زه په کور کې د خارنی لاندې يم، موبايل هم نلرم ته ډاډمن اووسه چې ترڅو ژوندی يم په خوله به مې ستا نوم او په سترګو کې به مې ستا د پارچنو شونډو انځور وي.
او دا هم درسره وعده کوم، چې د غرني د واده ارمان به پوره نشي شايد زما او ستا دا آخري ليدنه او خبرې وي او که بيا دې چرته په زړه را وريدم نو د کلي په لويه هديره کې به يو قبر خلک پدې نامه پيژني چې دې جلی د واده په شپه ځان وژلی او هغه قبر به زما وي.
لايقه په اخر کې دا خبره بيا هم په جرآت سره کووم چې زما لايقه ( مينه درسره لرم ) اوس نو نه وېرېږم بلکې په دې جملې وياړم.
مينه درسره لرم
ستا بايلونکې ماته پاڼه !

د پاڼې د دې کيسې له لوستلو وروسته مې يوه شيبه هم سترګې بې نمه نشوې، د ورځې ځلويښت ځله راياديږي او ځلويښت سګرټه څکوم.
ورځ تر بلې مې حال په خرابيدو دی مور راته غاړه له تعويزو ډکه کړه، خو د ملا دم زما د ميني مخه نشي نيولی.
او نه د پاڼې د هېرېدو ځواک لري څومره چې زمانې اوږي فاصلې بې معنې کيږي.
او يادونه يې نوي نوي رنګونه راوړي په غونډو او مشاعرو کې مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لہ مسکالہ تر دي حالہ ! / ۱۰۹

ګڼونوال غزلې او نظمونه دوه دوه ځلې اوري، او په چکچکو یې بدرګه کوي.
خو د احساس درک مې هیڅ ونکړو د ژوند تولې چارې مې بې مانا دي، او که مانا ده هغه هم د ژوند په خاړیزې للمې لوخې پښې په یوه ورک منزل پسې مزل دی. یوې چارې ته ژوند دی چې یا یې له احواله خبر شم او یا یې او ګورم او بـــــس...

چې ستا به یاد او که به هېر یم
زه چې قدم په قدم ږدم تا یادوومه

پـــای

د هېواد د خپلواکۍ ۱۰۰مې کلیزې په ویاړ!






Designed By: Sanaullah Zawab

شهباز خپرندویه ټولنه
برېښنالیک shahbazpublications@gmail.com
اړیکشمېرې ۰۷۹۷۹۲۰۰۰۸ ـ ۰۷۷۶۹۲۰۰۰۸ـ۰۷۸۷۸۶۸۸۱۶
پته: بي بي حوا عالي لیسې تر څنګ د حاجي عظیم مارکېټ ته مخامخ
جلال اباد ښار

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library